

Report

# د طالبانو د ناخرګند حکومت لاندې ژوند

Ashley Jackson

June 2018

Embassy of Denmark Kabul

Readers are encouraged to reproduce material from ODI publications for their own outputs, as long as they are not being sold commercially. As copyright holder, ODI requests due acknowledgement and a copy of the publication. For online use, we ask readers to link to the original resource on the ODI website. The views presented in this paper are those of the author(s) and do not necessarily represent the views of ODI.

© Overseas Development Institute 2018. This work is licensed under CC BY-NC 4.0.

Cover photo: Taliban fighter in Logar province. © Andrew Quilty 2018

**د بحث لنډيز. ... 4**
ميتودولوژي ... 6
**د انتظار په حال کې حکومت وده ... 7**
د ناځرګند سيستم پيل ... 7
عيني حکومتولي ... 10
**معارف ... 11**
جوړښت ... 11
پاليسی ... 12
د ښځو او نجونو زده کړې ... 14
پر ښوونځيو بريدونه ... 16
**روغتيا ځارنه ... 17**
جوړښت ... 17
پاليسی ... 17
د ښې روغتيا ساتنې د لاسرسی لپاره د 2017 "کمپاين" ... 19
**عدالت ... 20**
جوړښت ... 20
د مراحلو بشپړول ... 21
د پياوړتيا او کمزورتيا ټکي ... 22
د طالبانو مقررات د ټولنيز کنټرول په حيث ... 23
**ماليات او عايدات ... 24**
جوړښت ... 24
زکات او عشر ... 25
مخابرات او عامه تأسيسات ... 26
د عايد له توليد څخه ورهاخوا ... 27
**وده، مخالفت او چنه وهل (مذاکره) ... 27**
د اسلامي امارت دورې د سياستونو تکاملي بهير ... 27
د ملکي وګړو چنه وهل (مذاکره) ... 29
مخالفتونه ... 31
اجبار او کنټرول ... 32
**نتايج او پايلې ... 33**

# مننديې

ليکواله د هغو کسان پوروړې ده چې د دې څېړنې لپاره يې د مرکې کولو سره موافقه وکړه او خپلې تجربې يې په صداقت سره شريکې کړې. دا کار د باور وړ ژباړونکو او منځګړيتوبونو له مهارتونو او ملاتړ پرته شونی نه و. ليکواله په بشپړ ډول د دوی پوروړې ده. عزيز تسل او يو شمېر نور چې نه غواړي نومونه يې واخيستل، په دې څېړنه کې ډېره زياته مرسته وکړه. په همدې ډول ليکواله په افغانستان کې د *خونديتوب سازمان* نړيوالې انجو ټيم او د افغانستان د څېړنې او ارزونې څانګې له ملاتړ او د ساحوي کار په پړاو کې د هغوی له مشورو څخه مننه کوي. رحمت الله اميری، بِټی دم، انټونيو ګيوستوزي، ايان کپلان، مګنوس لورنتزن او مايک مک اِوای په ډېرې سخاوتمندۍ سره د مسودو په هکله خپل نظرونه وړاندې کړل، که څه هم د هر ډول غلطۍ يا تېروتنې مسئوليت د ليکوالې په غاړه دی. په همدې توګه ليکواله په ODI کې له خپلو همکارانو په ځانګړي ډول سارا پنټوليانو، هنا برې او متيو فولې څخه مننه کوي. د ډنمارک د بهرنيو چارو وزارت د دې څېړنې لپاره په سخاوتمندۍ سره مالي لګښت چمتو کړ. شفيع اتل د دې رپوټ پښتو او درې ژبو ژباړه تر سره کړه.

په دې څېړنه کې وړاندې شوې نظرونه او موندنې يوازې د ليکوالې دي، او د ډنمارک د بهرنيو چارو وزارت د رسمي نظر استازيتوب نه کوي.

# د بحث لنډيز

لسګونه میلیونه افغانان یو وار بیا د طالبانو تر حکومت لاندې ژوند کوي.

دغه لیکنه د طالبانو سرتیرو او چارواکو او ملکي وګړو له 160 څخه زیاتو کسانو سره نیغ په نیغه مرکو له لارې د طالبانو د حکومت کولو څرنګوالی څیړي. د طالبانو حکومت د بل هر وخت په پرتله منسجم دی. د هغوی سیاستونه په زیاتیدونکي ډول د لوړې کچې کمیسیونونو د څرګندي قومندې او سیاستونو تر اغیزې لاندې دي چې دغه قومنده او سیاستونه په پاکستان کي له میشت مشرتابه څخه نیولې د افغانستان تر کلیو پورې هره برخه اداره کوي.

په کومو سیمو کې چې دولت او مرستندویه سازمانونه چوپړتیاوې او عمومي وسایل چمتو کوي، طالبان ورسره مرسته کوي او کنترول کوي یې. د طالبانو په سیمه کې روغتیا او زده کړه د انجوګانو او دولتي چوپړتیاو جوړښت دی چې د طالبانو د قوانینو پر بنسټ کار کوي. د طالبانو کسان له کلینیکونو څخه څارنه کوي چې آیا د کلینیک کارکوونکي حاضر دي که نه، که حاضر نه وي، د هغوی له تنخوا یې کموي؛ او تجهیزات او د درملو زیرمې تفتیش کوي. طالبان په دولتي ښوونځیو کې دولتي درسي نصاب تنظیموي، د ښوونځي ښوونکي او کارکوونکي ارزوي، د ښوونکو حاضري څاري او تولګي ګوري. په داسې حال کې چې د طالبانو مشرتابه ادعا کوي چې هغوی د نجونو منځني تعلیم ته هغه وخت اجازه ورکوي چې د هلکانو او نجونو ښوونځي بیل وي او ښوونکي یې ښځې وي، خو د نجونو زده کړې معمولاً د پیغلتوب په وخت کې دریږي. سیمه ییزو طالبانو په دوامدار ډول د نجونو منځنی او لوړې زده کړې ګواښلي دي.

د چوپړتیاو چمتو کوونکي وزارتونه له سیمه ییزو طالبانو سره په معامله کې دي. د ولایتي یا ولسوالۍ کچې زیاترو روغتیایي او تعلیمي چارواکو په وینا چې ورسره مرکه شوې ده، هغوی له خپلو طالب سیالانو سره مستقیمه اړیکه لري. ځینو یې آن له طالبانو سره رسمي هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي چې د هغوی د همکارۍ شرایط په ډاګه کوي. طالبانو د روغتیا او تعلیم او تربیې په هکله د ملکي وګړو شکایتونو ته ځواب ورکړی دی او د دولتي سیستم د ښه والي په لټه کې دي. هغوی پر انجوګانو فشار راوړي خو په کلیوالو سیمو کې روغتیا ساتني ته لاسرسي زیاته کړي او د چوپړتیاو کیفیت ښه کړي. هغوی په یو فاسد او ناکاره تعلیمي سیستم کې هڅه کوي خو ډاډمنتیا تر لاسه کړي چې ښوونکي حاضر دي، خپله دنده اجرا کوي او د مضمونونو د تدریس لپاره له لازم مهارت څخه برخمن دي. دا ملکي وګړو ته یو څرګند پیغام دی. د طالبانو د یوه چارواکي په وینا: "خلک د طالبانو پر دولت نیوکه کوي چې په 1990 لسیزه کې بیکاره وه، خو کله چې موږ په دولت کې وو، هیڅکله مو دومره مرستې نه درلودې. که حکومت موږ ته وسپارۍ، وبه ګورۍ چې موږ له دومره نړیوال ملاتړ سره کوم کار تر سره کولای شو."

مالیات د اسلامي مالي مفاهیمو لکه عشر او زکات او یا د دولتي رسمي مالیاتي سیستمونو له اجرا څخه عبارت دي. طالبان عامه چوپړتیاوې او مخابرات تنظیموي. هغوی د افغانستان له 34 ولایتونو څخه په حداقل اته ولایتونو کې د برېښنا پیسې راټولوي او د طالبانو په سیمو کې د برېښنا د پرچاوۍ پر مهال ټرانسفرمرونه الوځوي او دولت مجبوروي څو هغه بیرته ترمیم کړي. هغوی د ګرځنده ټلیفون پوښښ ته لاسرسی تنظیموي او اکثراً ټینګار کوي چې د شپې لخوا باید بند وي، تقریباً په ورته طریقې: د ګرځنده ټلیفون ستنو په الوځولو او د مخابراتو کارکوونکو په وهلو ډبولو سره.

مالیات او د عامه چوپړتیاو مقررات یوازې د عاید په لاسته راوړلو پورې تړاو نه لري. په مالیاتو کې یو ټولنیز تړون شامل دی او د دې لپاره جوړ شوی چې طالبان د یوه دولت په توګه ښکاره کړي. تصادفي خبره نه ده چې د طالبانو لخوا د برېښنا جوړ شوي بلونه تقریباً د هغو بلونو کاپي ده چې د دولتي برېښنا رسوني شرکت لخوا خپریږي. دا د سلطې او واکمنۍ یو ډول دی. د هغوی ورکړه لازمي او جبري ده او په اسلامي شرایطو برابره ده چې نه ادا کول یې د اسلام له دستوراتو څخه پیروي نه کول ګڼل کیږي.

عدالت د خلکو پخوانی او لومړنی مسئله ده چې طالبان هڅه کوي هغه اجرا کړي او د عدالت چمتو کول هم په زیاتیدونکي ډول پراخ شوی دی. د طالبانو قاضیان په منظم ډول نه یوازې د کندز په څیر د ګواښ لاندې ښارونو بلکې کابل کې هم شخړې حل کوي. دغه پراخوالی د طالبانو د محکمو او د نفوذ له کبله دی، ځکه دغه مسئله له کابل څخه بهر د دولت پر مطلق پاتي والي پورې تړاو لري چې نه دی توانیدلی د عدالت لپاره یو سیستم جوړ کړي. په داسې حال کې چې د طالبانو محکمې عمدتاً مدني دوسیې څیړي، نورې یې کیفري عدالت اجرا کوي او د دې کار د تر سره کولو په ځرنګوالي کې – لږ تر لږه په سیاست کې، که نه په عمل کې- په زیاتیدونکي ډول له احتیاط څخه کار اخلي. پر اعدامونو په ځانګړي ډول د جاسوسی تورونو په تړاو شدید محدودیت اجرا کیږي.

طالبان مجبور نه دي چې یوه سیمه په رسمي ډول ونیسي څو هغه تر کنټرول لاندې راولي. حکومت کول د سیمې له نیولو وروسته نه کیږي بلکې له هغې مخکې کیږي. پر چوپړتیاو او ورځني ژوند اغیزه د طالبانو د کنترول یا شخړې سیمو څخه پراخه ده. طالبان مالیات راټولوي، د معارف د تنظیمولو لپاره هڅه کوي او شخړې نه یوازې د کندز په څیر د ګواښ لاندې ښارونو بلکې د پلازمیني کابل په شاوخوا کې هم حل کوي. په هغو ولسوالیو کې چې د "پریکنده ماموریت" لخوا د شخړې لاندې سیمې یا د دولت تر کنترول لاندې شمیرل شوي، د ولسوالیو مرکزونه یوازې هغه ځایونه دي چې د دولت حضور په ډاګه کوي. له دې سره، والیان، قاضیان او نور ښایي د امنیتي ګواښونو له کبله په نورو ځایونو کې واوسیږي. هغه کسان چې پاتې کیږي، دغه کار د سیمه ییزو طالبانو په اجازې تر سره کوي.

په افغانستان کې د یاغیانو په وړاندې د کارول شویو تاکتیکونو پرخلاف، یاغیان عمدتاً د ملکي وګړو د چلند د کنترول لپاره له حکومتولی څخه ګټه پورته کوي او د ملکي وګړو د نه رضایت کچه راټیټوي څو د طالبانو په وړاندې بلوا ونکړي او یا د هغوی خبر ورنکړي. په داسې حال کې چې دغه ډول حکومت کول ښایي له چل څخه ډک او ایډیولوژیک وي او یا د تبلیغاتي موخو لپاره وکارول شي، خو دا اصلي موخې نه دي. له ټولو مهم دا چې، طالبان له حکومتولی څخه نظامي موخو ته د رسیدو لپاره کار اخلي.

د طالبانو حکومت توپیر لري او د هغو شرایطو درک کول چې اختلاف رامنځته کوي، ډیر مهم دي. طالبان د سیمه ییزې قومندې په جوړښت سره که په پالیسی که نه، په عمل کې هغو کسانو ته صلاحیت ورکوي چې ورسره ځانګړې تړونونه لري او سیمه ییزو قومندانانو ته یې اجازه ورکړې څو تر یوې اندازې د اختیار خاوندان وي. ملکي وګړي کولای شي د ځانګړو شرایطو پر بنسټ په ښه ډول معامله وکړي او سیمه ییز قومندانان د دې رپوټ د چمتو کولو تر پایه ډیر یا لږ د څیرل شویو عواملو پر بنسټ له مرکزي سیاست سره هوکړه ولري.

دا چې طالبان د هیواد په پراخو برخو کې مقررات تنظیموي، هغه واقعیت دی چې د نړیوالي ټولنې یو لږ شمیر لیوالتیا لري په کې ګډون وکړي. په داسې حال کې چې دا رپوټ د هر ډول راټلونکي سولې پر معاملې د پام وړ پایلې لري، تر ټولو بیړنی مسئله دا ده چې دم مهال کوم شی کولای شي او یا باید تر سره شي څو د هغو کسانو لپاره مقررات جوړ کړي چې د طالبانو تر حکومت لاندې ژوند کوي.

## سریزه

د دې رپوټ عنوان لږ څه لاره ورک کوونکی دی. د طالبانو حکومت نور پټ نه دی. طالبانو له خپلو ړنګیدو څخه شپاړس کاله وروسته په ټول هیواد کې د موازي حکومت یو پیچلی سیستم جوړ کړی دی. د دې لیکوال لخوا په ټول افغانستان کې د تر سره شویو مرکو پر بنسټ، دغه لیکنه په سیمه کې د طالبانو د واکمنۍ بدلونونه په ډاګه کوي.

اوسنی کار د پخواني کار دوام دی چې په 2011 کال کې په ODI کې پیل شوی و، او د بشر غوښتونکو خبرو اترو په هکله د وسله والو ډلو نظرونه په ځانګړي ډول مرستو ته د لاسرسي په تړاو د طالبانو لید په هکله د انتونیو ګیوستوزي لیکنه څیړي. ډیرو لږو کسانو د طالبانو د حکومتولی د پرمختګ او جغرافیایي لاسرسي په اړه وړاندوینه کولای شوه چې اوس موجوده ده، خو آن په 2011 کال کې هم طالبانو له دې وړاندې هڅه کوله په حکومتولی کې د نویو اقداماتو له لارې خپل نفوذ پراخ کړي.

په داسې حال کې چې څو لیکنې او رپوټونه د طالبانو د حکومت بیلابیلې برخې لکه زده کړې او یا عدالت څیړي، د هغوی ډیر لږ شمیر لکه د دې رپوټ په څیر د نیغ په نیغه مرکو پر بنسټ تر سره شوي. لږ شمیر یې د طالبانو تر حکومت لاندې ژوند په هکله پراخ او بشپړ انځور وړاندې کوي. زیاتو رپوټونو د مرستې اندازې پر شننې او د بیلابیلو لوبغاړو د همکارۍ په اړه چې د دې سیستم ستنې دي، "د طالبانو تمویل شویو ښوونځیو" او نورو په څیر عنوانونو پر اړخونو ټینګار کړی دی.

دغه رپوټ د رهبرۍ په کچه د طالبانو حکومتولی د پام وړ جوړښتونو په وړاندې کولو او دا چې څرنګه سکټوري ملکي کمیسیونونو د وخت په تیریدو سره بدلون موندلی دی، پیل کیږي. وروسته د طالبانو حکومتولي په سیمه کې، سکټور په سکټور څیړي، د هر سکټور لپاره "مقررات" طرح کوي او تصمیم نیول، پلي کول او ګډوډي تحلیلوي. دغه رپوټ د څیړنې او د پدیدو بهیر په شننې سره پای ته رسیږي.

## میتودولوژي

لیکوالې له 162 کسانو سره مرکه وکړه او هغوی یې تقریباً په مساوي ډول په دریو ډلو وویشل: د طالبانو جنګیالي، قومندانان، مشران، ملاتړي او پخواني غړي؛ دولتي چارواکي، کارکوونکي (د ښوونکو او ډاکترانو په ګډون) او مرستندویه کارکوونکي؛ او ملکي کسان چې د طالبانو تر کنټرول لاندې یې ژوند کړی یا دم مهال ژوند کوي.

د دې رپوټ لیکوالې زیاتې مرکې په خپله تر سره کړې، د اعتماد وړ ژباړونکو او منځګړو سره یې کار وکړ څو د طالبانو له غړو او هغو کسانو سره آشنایي پیدا کړي چې طالبانو د هغوی ژوند اداره کاوه. څیړنه د 2017 په جولای کې پیل شوه او د اړیکې جوړولو لپاره زیات وخت برابر شوی و څو دې کسانو ته لاسرسی چمتو کړي. په کومو سیمو کې چې لیکواله موجوده نه وه، اووه مرکې د لیرې لارې (د ټیلفون یا پیغام ورکولو پروګرامونو له لارې) او یا د منځګړو لخوا تر سره شوې. ښځې د مرکه شویو لسمه برخه جوړوله او نیمایي برخې یې په غیرمستقیم ډول مرکه شوې. افغان میرمنو سره خبرې کول چې د طالبانو تر کنټرول لاندې اوسیږي، آن د طالبانو له غړو سره د خبرو نه هم ستونزمن کار و.

له څو کسانو سره څو واري مرکه وشوه او د سرچینو کره مثلث جوړول په کار واچول شول، په دې معنا چې کوم "نوې" معلومات چې دلته وړاندې شوي دي، د دری سرچینو لخوا تایید شوي چې له یو بل سره تړاو نه لري. دا کار اړین و، ځکه د یوې پیښې تشریح د بیلابیلو کسانو لخوا اکثراً

تناقض درلود. دا کار باید د جنګي سیمو تجربه لرونکو څېړونکو لپاره یوه نوې خبره نه وي. له دې سره سره د هر ډول بې دقتۍ مسئولیت د لیکوالي پر غاړه دی.

په ټولیز ډول څېړنه د اوو ولایتونو په 20 ولسوالیو کې تر سره شوه. د حکومتولۍ د جوړېدو د ځرنګوالي په هکله د سیمه ییز انځور وړاندې کولو په موخه درې اصلي ولسوالۍ د څېړنې اصلي محور و (د هیواد په ختیځ کې د لوګر ولایت چرخ، په سویل کې د هلمند ولایت نادعلي او په شمال کې د کندز ولایت چاردره). د وضعیت د مقایسې او مقابلې په موخه په 17 ولسوالیو او 4 ولایتونو کې لومړنۍ څېړنې ترسره شوې.[1]

## د انتظار په حال کې حکومت وده

د طالبانو د مشرتابه هر ډول تشریح باید د خبرداریو په یوې مجموعې پیل شي. د طالبانو جګړوړو چارواکو او ملاتړو سره په مرکو کې، بیلابیلو کسانو د دې غورځنګ د جوړېدنې او کړنو په هکله ډول ډول نظرونه درلودل. دا چې څوک چا ته ریوټ ورکوي او څوک پر څه اغیزه کوي، ټول تر بحث لاندې ونیول شول. د مقام درلودل په جدي ډول د کارونو د تر سره کولو او تصمیم نیولو پر ځرنګوالي اغیزه کوي، د غورځنګ هیڅ یو غړی له وضعیت څخه بشپړ انځور نه لري. د دې په پام کې نیولو سره چې دغه غورځنګ لا زیات راټول شوی او له داخلي پلوه منسجم شوی دی، خو کیفیت یې د وخت په تیریدو کم شوی دی. دغه کار تر یوې کچې دوام مومي، ځکه نه یوازې د غورځنګ د تنظیمولو او کورني بیلابیلو اختلافونو لپاره بلکې په همدې ډول امنیتي او محرمانه مسایلو لپاره ګټور دی. په داسې حال کې چې د طالبانو جوړښت په ښه ډول توصیف شوی دی، خو په عمل کې دومره ښه نه ښکاري. ځینې دندې یوازې په نظریه کې موجودې دي یا د خاصې موخې لپاره جوړې شوې دي، که څه هم د وخت په تیریدو سره زیاتې دغه دندې په "عینیت" بدلې شوې دي.

## د ناځرګند سیستم پیل

د طالبانو د مشرتابه غړي په 2002 او 2003 کلونو کې بیرته په پاکستان کې سره یوځای شول او په افغانستان کې یې خپلې شبکې بیرته فعالې کړې. یو قوي روایت موجود دی چې طالبانو د یاغیګرۍ له تقریباً پیل څخه د حکومتولۍ ناځرګند سیستم پیل کړ. د طالبانو سرچینې وایي چې تر 2003 پورې هغوی د نظامي، فرهنګي، مالي او سیاسي چارو کمیسیونونه په تبعید کې په پاکستان کې جوړ کړل.[2] نظامي او مالي چارې چې له نوم څخه یې ښکاري، پر جګړې او د جګړې پر مالي چارو تمرکز لري. د فرهنګي چارو کمیسیون پر رسنیو او اړیکو متمرکز و: پیغام رسول، د مطبوعاتو غوښتنو ته ځواب ورکول او د طالبانو د مجلو او وب سایټونو جوړول.

په افغانستان کې دننه مرکې دغه شک رامنځته کوي چې د پروګرام جوړولو او سازمان ورکولو دغه کچه تر دې دمه ډیره ژر ښکاري. که دغه کمیسیونونه له 2006 مخکې موجود وو، احتمالاً یوازې نومونه یې وو. د دغو بنسټونو د کار پیلولو نیټه د بحث وړ ده، خو د وخت په تیریدو سره یې اهمیت پیدا کړ. د یاغیګرۍ په پیل کې، د اړیکو او همغږۍ جوړول ستونزمن کار و. د

[1] Saydabad and Chak districts of Wardak; Dasht-i-Archi and Kunduz City, Kunduz; Alingar and Alishang districts of Laghman; Baraki Barak and Mohammad Agha districts of Logar; Musa Qala, Nawa and Sangin districts of Helmand; Panjwayi and Arghandab districts of Kandahar; Tirin Kot and Khas Uruzgan districts of Uruzgan; Qalat and Shinkay districts of Zabul.

[2] According to three individuals directly involved with creation of these commissions, and two secondary sources with close knowledge of these events.

غورځنګ مشر ملاعمر امیرالمومنین پېژ شوی و. آن له رهبرۍ شورا سره د امنیتي اندېښنو له کبله د اړیکي نیول تر ډېرې کچې محدود وو. پر دغه یاغي سازمان د کنټرول تر لاسه کولو وخت ته اړتیا درلوده.

له هغه ځایه چې نظامي څانګه تر ټولو زیاته منسجم شوې وه، د یاغیتوب ملکي اړخونو ته پام راوګرځید. په دغه بهیر کې یو ښکیل کس، دغه پروسه په لاندې ډول بیان کړه:

*کله چې موږ د زیاتو سیمو کنټرول تر لاسه کړ، په دې فکر شولو چې خلک زموږ څخه چوپړتیاوې غواړي. موږ د شورا په حیث یوځای شولو او په دې مو فکر وکړ چې باید د چوپړتیاو د پیل لپاره یوه لاره پیدا کړو. له دې کبله زموږ ټول کمیسیونونه د وزارتونو معادل دي. لکه عباس د روغتیا پخوانی وزیر د روغتیا کمیسیون د رئیس په توګه وګومارل شو. هر چا چې په اړوندې برخې کې تجربه درلوده، موږ هغه بیرته په هغې دندې وګومارو چې په کې یې تجربه درلوده.*[3]

په افغانستان کې دننه د طالبانو ناڅرګند حکومت لومړني شواهد، په 2006 کال کې د ولایتي نظامي قومندانانو او تش په نوم والیانو حضور و (د نظامي او وروسته ملکي کمیسیونونو تر څنګ چې دغه دندو ته یې مشوره او نظر ورکاوه). د طالبانو قاضیان د طالبانو د چوپړتیاو وړاندې کولو لومړنۍ اجرایي برخه وه چې په 2004 کال کې تر سره شوه.[4] ګیوستوزي او همکاران یې (2012) اټکل کوي چې تر 2010 پورې، 500 قاضیان په کار بوخت وو. د رسنیو او مالي چارو چارواکي تقریباً په ورته وخت کې موجود وو، خو د روغتیا، معارف او نور چارواکي وروسته څرګند شول. د امریکا پوځ لخوا لومړني پرمختګونه د 2010 کال په وروستیو کې پیل شول، په ځانګړي ډول د منځنۍ او لوړې کچې قومندانانو د وژلو پر مهال. تر 2012 کاله پورې زیاترو والیانو د وژل کیدو د ډار له کبله نشو کولای په مقرر شویو ولایتونو کې کار وکړي، له دې کبله د هغوی د "حکومت" کولو درجه محدوده شوې وه. د دې ځیرنې پر مهال، نوره دغه مسئله مطرح نه وه. د طالبانو تش په نوم والیانو کولای شول په نږدې ټولو ولایتونو کې واوسیږي.[5]

پر ښوونځیو، کلینیکونو او انجوګانو باندې بریدونو د پاڅون په لومړنیو کلونو کې چوپړتیاو ته لاسرسی ګډوډ کړ او انجوګاني د طالبانو د فعالیت سیمو څخه ووتلې. بیلابیلې، سیمه ییزې او نوبتي هڅې د نورو چوپړتیاو یا د چوپړتیاو د وړاندې کولو تنظیمولو لپاره معمولاً په سیمه کې موجودې وې. له دې وړاندې طالبانو په 2009 کال کې د کندز په چاردره ولسوالۍ کې ماشومان او د هغوی والدین د دې لپاره مجازات کول چې ولې ښوونځي ته نه راځي او غیرحاضر ښوونکي یې مجبورول چې خپلې دندې ته حاضر شي.[6] ګیوستوزي رپوټ ورکوي چې طالبانو آن د 2007 کال په پیل کې وویل چې هغوی به خپل ښوونځي پرانیزي او د موازي روغتیایي سیستم د جوړولو لپاره یې د ډاکترانو او نرسانو په تښتولو لاس پورې کړ. (2009، 104-5 پاڼې).

د طالبانو وضعیت په تدریج بدل شو، ځکه زیاته سیمه او داخلي کنټرول یې ترلاسه کړ. ملکي وګړو شکایت کاوه او هغوی پر مرستندویه کارکوونکو، ښوونځیو او کلینیکونو باندې د بریدونو له کبله تر فشار لاندې وو. د لایحي یا کړنلارې او د هغې اصلاحات د طالبانو موقعیت او سیاست د نیتي بدلون د څرنګوالي له روښانه کیدو سره مرسته کوي. لومړنۍ نسخه چې په 2006 کې خپره شوه، د جنګیالیو لپاره د 30 مقررو نسبتاً لنډ لست و چې ظاهراً د نظامي نظم او انسجام په موخه ترتیب شوې وه. د 2009 او 2010 نسخې توپیر لري. تر 2009 کاله پورې طالبان نور ترهګر

[3] Interview with former member of the leadership *shura*, March 2018 (93).

[4] Judges appeared sometime between 2003 and 2007, according to Giustozzi et al. (2012). Judges who were active in Helmand and Logar in 2005 and 2006, respectively, were interviewed for this research, and all suggested the earlier part of that time frame around 2003 or 2004 but they could not be definitive about when it all began.

[5] There are a few notable exceptions. The shadow governors for relatively Taliban free provinces, such as Bamiyan, and for Kabul are in reportedly based in Peshawar.

[6] Author recollection and notes of an October 2009 Protection Cluster meeting; verified in interviews with residents of Chardara district in November 2017.

یاغیان نه وو. هغه یو وسله وال سیاسي غورځنګ و چې په سویل او ختیځ کې یې د پام وړ نفوذ درلود او کولای یې شول په لویو ښارونو کې برجسته او مهم نظامي بریدونه تر سره کړي. د 2009 او 2010 نسخې د والیانو، ولسوالانو او کمیسیونونو د رول په ګډون کره حکومتي جوړښت په ډاګه کوي. د طالبانو یو پخوانی چارواکی چې د لایحې په تړاو بحثونو کې شامل دی، وایي: "موږ اړتیا درلوده چې په لایحې سره وښایو چې کولای شو حساب ورکړو او کولای شو یو ځواب ویونکی دولت ولرو چې هر څوک هغه ومني".[7] د 2009 او 2010 لایحه نه یوازې د مقرراتو کتابونه دي بلکې د ارزښتونو د اړیکو جوړولو او کورني او بهرني مخاطبانو په وړاندې د دې غورځنګ د آرمانونو ابزار دي. بل توپیر یې دا دی چې د 2009 او 2010 نسخې هغه مقررات حذفوي چې پر ښوونکو، ښوونځیو او انجوګانو باندې یې د بریدونو سپارښتنه کوله. په بدل کې یې هغوی مجبور دي چې د معارف په برخه کې د اسلامي امارت له سیاستونو څخه پیروي وکړي. دا په دې معنا ده چې دغه ډول سیاستونه په هغه وخت کې موجود وو، آن که طالبانو نه غوښتل چې هغه په عمومي ډول خپاره کړي.

ثانیاً، مرستندویه او د لومړنیو چوپړتیاو وړاندې کوونکو سازمانونو سره د تعامل ګټو ظاهراً د طالبانو لید بدل کړی دی. د ماشومانو د ګوزڼ واکسینونه د عمومي اړیکو ګټې ښیي چې له نړیوالې ټولنې سره د روغتیا مسایلو په هکله اړیکې رامنځته کوي. د طالبانو مشرانو د 2007 کال په اګست میاشت کې نړیوال روغتیایي سازمان (WHO)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (UNICEF) او د هغوی اجرایي همکارانو ته اجازه ورکړه څو د ګوزڼ کمپاین تر سره کړي. د ملاعمر په نوم یو مکتوب صادر شو او د نورو کمپاینونو لپاره د هغه په نوم ورته مکاتیب یا دستورالعملونه صادر شول چې له جنګیالیو یې غوښتل واکسیناسیون ته اجازه ورکړي او له والدینو څخه یې غوښتل چې خپل ماشومان واکسین کړي. د ګوزڼ کمپاین طالبانو ته اجازه ورکړه څو له نړیوالو قواعدو سره برابر د کار کولو ګډ اړخونه په داسې ډول ښکاره کړي چې عمدتاً د هغوی د چارواکو او جنګیالیو لخوا منل شوي دي.

سربیره پر دې، طالبانو خدماتي او مرستندویه پروژو ته اړتیا درلوده څو ملکي وګړي په خپل ځنګ کې وساتي. هغوی د یوې سیمې له نیولو وروسته منل چې د مرستندویه سازمانونو کار د ملکي وګړو د تسکین لپاره یوه وسیله ده، ځکه هغوی به لږ خیانت وکړي او یا د هغوی پر ضد به اقدام وکړي. د مرستو ګټو ته لیوالتیا له یوې خوا او د مرستندویه سازمانونو په هکله ژور شک له بلې خوا له اوږدې مودې راپدیخوا موجود دی. د دې شک د زیاتولو لپاره د مرستې او چوپړتیاو برابرول په ځانګړي ډول د ولایتي بیارغونې ټیمونو (PRTs) د بلوا ضد ستراتیژۍ مرکزي برخه وه، دا هغه څه وو چې د طالبانو څو مشرانو په خپلو مرکو کې د هغې یادونه وکړه (د معارف په برخه کې ورباندې زیاتې خبرې شوي دي). سره له دې تر 2011 پورې، د طالبانو مشرانو له حداقل 26 مرستندویه سازمانونو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کړل او انجوګانو سره یې یو مشخص مرکزي سیاست رامنځته کړ. دغه سیاست په څرګند ډول په سیمه کې د زیاتو جنګیالیو لخوا د پوهیدو وړ و. سیمه ییز طالبان آن هغه کسان چې ورباندې نه پوهیدل، په غیرمعمولي ډول یې ترې سرغړونه نه کوله. مرستندویه مؤسسو ته لاسرسی په څرګند ډول د نظامي اندیښنو تر اغیزې لاندې و. د شک کولو په دې مسئله کې د مرستو بندیدل یا پر مرستندویه کارکوونکو بریدونه شامل دي چې ښایي مرستندویه سازمانونه جاسوسي وکړي یا د طالبانو خلاف ګام پورته کړي (جکسن او ګیوستوزي 2012).

نور بدلونونه په لوړه کچه کې تر سترګو شول. یو یې د ملا اختر محمد منصور رهبري ده چې له 2010 کال راپدیخوا عملاً امیر و او بیا د 2015 په جولای میاشت کې د ملاعمر د مرګ له اعلام وروسته چې په بلې میاشت کې یې ووژل شو، په رسمي ډول د امیر په توګه وګومارل شو. منصور په مرکو کې د خیالي مشر په توګه ښودل کیده چې د جګړې له میدانه پورته و او اساسي حکومتولي یې تصویب کړه. هغه بالاخره بلوا په یو سیاسي غورځنګ او د انتظار په حال کې دولت باندې بدله کړه او ویې کړای شول چې په اغیزمن ډول پراخې سیمې کنټرول کړي.[8] دا په دې معنا نه

[7] Interview with former member of the leadership *shura*, March 2018 (93).

[8] Interview with a Taliban interlocutor, July 2017 (86); interview with Taliban mid-level commander, Wardak, March 2018 (96); interview with provincial Taliban official, Helmand, December 2017 (66).

ده چې منصور سیاست نه لوبوه. هغه د طالبانو په منځ کې خپلو شبکو ته خدمت وکړ او ورڅخه یې ګټه پورته کړه. هغه یو تفرقه اچوونکی مشر و. د امیر په توګه د هغه منصوبول د ځو اصلي شخصیتونو د استعفا له کبله وو.

د منصور ګومارل کېدل د نړیوالو ځواکونو له کمېدو سره په یو وخت کې تر سره شول چې طالبانو ته یې اجازه ورکړه خپل نفوذ په شدت سره پراخ کړي. په 2012 کال کې شاوخوا 142،579 نړیوال ځواکونه په افغانستان کې موجود وو (لیوینګسټن او اوهانلن، 2012). په 2017 کال کې 13767 نړیوال ځواکونه د غوڅ ماموریت په عملیاتو کې وو چې عمدتاً یې د روزنې او ملاتړ (غیرمحارب) رول تر سره کاوه.[9] طالبانو د نړیوالو ځواکونو په وتلو سره زیاتې ځمکنۍ جګړې تر سره کړې او زیاتې سیمې یې ونیولې.[10] هغوی ښارونه او د ولسوالیو مرکزونه محاصره کړل، په ځانګړي ډول د کندز ښار یې په 2015 کال کې ونیو او په 2016 کال کې یې د هغې د نیولو لپاره بیا هڅه وکړه، که څه هم هغوی نشي کولای د نړیوالو ځواکونو د ځمکني او هوايي بریدونو په وړاندې دغه سیمې د زیاتې مودې لپاره وساتي.

د طالبانو د واکمنۍ لاندې سیمو په هکله هیڅ ډول د اعتماد وړ یا خپلواک اټکل موجود نه دی. د طالبانو د کنټرول یا واکمنۍ لاندې سیمو په هکله اټکل چې تل ورڅخه یادونه کیږي، د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت لخوا تر سره شوی چې یو غیرمحارب ماموریت دی او په 2014 کال کې د ناټو د محارب ماموریت، امنیت سره د مرستې نړیوال ځواک (آیساف) ځای یې ونیو. غوڅ ملاتړ اټکل کړی چې د 2015 نوامبر او د 2017 اکتوبر تر منځ د افغانستان دولت لخوا د ولسوالیو د کنټرول سلنه له 72 څخه 56 ته راټیټه شوې ده. آن دغه نسبتاً د باور وړ اټکل د طالبانو د نفوذ ښکارندویي کوي، په ځانګړي ډول دا چې دولت د هیواد له نیمايي څخه په زیاتو کلیو کې ډېر کمزوری یا هیڅ شتون نه لري او دا کار طالبانو ته لار پرانیزي. د بي بي سي د 2018 د جنورۍ میاشتې د یوې سروې پر بنسټ، طالبان د هیواد په 70 سلنه ولسوالیو کې په ښکاره ډول فعال وو (بي بي سي، 2018).

خلکو ته د امنیت راوستلو په موخه د حکومت کولو ظرفیت اوس د طالبانو په وړاندې په یو اړین امر بدل شوی دی. د طالبانو یو ځواب ورکوونکي وویل: "د نړیوالو ځواکونو په وتلو سره موږ به له لږې جګړې سره مخامخ شو او کولای شو پر حکومت کولو تمرکز وکړو. موږ له 1990 لسیزې څخه زیات چمتووالی درلود، ځکه پوهیدو چې دولت به له منځه ولاړ شي او موږ باید له خپلو سیستمونو سره چمتو اوسو څو خلکو سره مرسته وکړو."[11]

د دې کار د پام وړ اړخونه د طالبانو چابکي او پیاوړتیا ده څو خپل ځان له ډینامیک بدلون سره برابر کړي. د طالبانو اوسنیو او پخوانیو غړو سره له خبرو څرګندیږي چې طالبانو د حکومت کولو لپاره مهمه طرحه نه درلوده. د مشرتابه او ولایتي چارو غړو په هغه وخت کې، جوړښت یو تکراري او "ګام په ګام" بهیر بیانوه. هغوی هڅه وکړه د خپل حکومت ځینې برخې بیرته راژوندۍ کړي، لکه عدالت. هغوی مجبور وو نور سیستمونه د آزمايښت او خطا له لارې رامنځته کړي. داسې ښکاریده چې د دې بهیر زیاته برخه له لاندې څخه پورته او د مشرتابه غوښتنه وه او له سیمه ییزو تجربو څخه کوم شي چې کار ورکاوه او کوم څه چې نه ورکاوه، سر راپورته کړی و.

## عملي حکومتولي

---

[9] This is according to most recent official information available on the NATO website, and includes 6,941 US troops. The precise number of international forces on the ground at present is unclear. The precise number of international forces on the ground at present is unclear. The precise number of international forces on the ground at present is unclear. As of November 2017, there were reportedly 14,000 US troops in Afghanistan (Snow, 2017). US troop numbers have continued to rise since then, but no accurate or precise of cial  gures are available.

[10] The number of civilian casualties due to ground engagements rose from 1,429 in 2009 to 2,334 in 2013 and 4,137 in 2015, and ground battles became a leading cause of civilian casualties during after 2013 (UNAMA Human Rights, 2016). Civilian casualties from ground engagements, decreased for the first time since 2012, with civilian casualties from ground engagements falling below 3,500 for the first time since 2013 (UNAMA Human Rights, 2018).

[11] Interview with Taliban interlocutor, March 2018 (94).

طالبان د *امیرالمومنین*، دم مهال د ملا هیبت الله آخندزاده تر مشرۍ لاندې دي. د مسئولیت بنه او اړخونه د دې په پام کې نیولو سره چې څوک په مشرتابه کې دي، توپیر لري، خو اوسنی امیر د یو معنوي او سیاسي مشر په توګه عمل کوي. له هغه وروسته، دوه مرستیالان، دم مهال یعقوب د ملاعمر زوی او سراج الدین د جلال الدین حقاني زوی او همدا ډول د رهبري شورا ځای لري. د کویټې او پېښور شوراګانو حکومتي مسئولیتونه په سیمه ییز ډول ویشلي دي. دریمه شورا، د میرام شاه شورا د حقاني کورنۍ تر واکمنۍ لاندې ده. په دې اړه متناقض رپوټونه شته، خو داسې ښکاري چې دغه شورا په اصلي نظامي او سیاسي فعالیتونو کې د دخالت په تناسب زیاتره د غیرعادي او د پام وړ نظامي عملیاتو د څانګې مسئولیت لري.

د ملکي حکومتولۍ له پلوه یو تش په نوم والي په ولایتي کچه موجود وي چې په رسمي توګه د مشرتابه شورا لخوا ټاکل کیږي. والیان معمولاً هر کال بدلیږي او په بل ولایت پورې تړاو لري، که څه هم ځیني استثناګاني شته. طالبان اوس د نیمه حرفوي کسانو یوه شبکه لري چې د څو کلونو او په څو ولایتونو کې یې خدمت کړی دی. یو ولایتي ملکي کمیسیون د سیمې له خلکو څخه جوړ شوی دی چې والي ته مشوره ورکوي. تش په نوم والي او کمیسیون یې په هیڅ ډول "ملکي" نه دي، بلکې موخه یې د ولایتي نظامي قومندان او کمیسیون بشپړول دي. تش په نوم والیان ښایي په مختلفو درجو په نظامي برخو کې عمل وکړي چې دا کار د سیمه ییزې حکومتولۍ د سیمې پر واکمنۍ او کنټرول پورې اړه لري.

ولایتي جوړښت د ولسوالۍ په کچه د ولسوال په بڼه تکرار شوی دی چې معمولاً د سیمې یو تن د والي لخوا ټاکل کیږي. ولسوال د یوه مرستیال او ملکي کمیسیون لخوا ملاتړ کیږي چې په کې د مشرانو یوه ډله شامله ده. ولسوالان اکثراً د اختلافاتو د حل لپاره د اړیکي لومړنی ځای دی، په ځانګړي ډول د کوچنیو دوسیو لپاره (د ځمکې یا سرچینو اختلافونه، مدني دوسیې) یا په داسې ځای کې چې د طالبانو قاضیان له حد زیات مصروف او یا غایب وي. مشران د حکومتي ولسوالیو شوراګانو او له خلکو څخه د دفاع او د طالبانو د سیمه ییزو چارواکو سره د اړیکي جوړولو په تړاو مهم رول لوبوي. په همدې ډول، د ولسوالۍ او ولایت په کچه د محاکمو سیستم او ورسره ستره محکمه او اړوند کمیسیون په پاکستان کې موجود دی.

د ولایت په کچه په ټولو برخو کې تش په نوم وزیران د اړوند کمیسیون (یعني روغتیا، مالي چارو، معارف) لخوا ګومارل کیږي. دغه سیستم په وروستیو کلونو کې له یو درجن څخه زیاتو کمیسیونو سره نور هم پیچلی او پراخ شوی دی چې ځیني یې نورې فرعي څانګې هم لري چې په کې د معارف، روغتیا، کانونو، ملکي تلفاتو او کرنې په څېر مسایل شامل دي. د بیلګې په توګه، د روغتیا کمیسیون د روغتیا تش په نوم وزیر او د معارف کمیسیون تش په نوم د معارف وزیر ټاکي. وروسته وزیر د ولسوالۍ په کچه د هرې څانګې لپاره یو مرکزي رابط ټاکي. د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کمیسیونونو د استازیتوب درجه توپیر لري، خو د مالي، معارف، فرهنګی (مطبوعاتي ویاندان) او روغتیا چارې تر ټولو زیات حضور لري.

# معارف

## جوړښت

د معارف تش په نوم وزیر د معارف کمیسیون لخوا مقرر کیږي. تش په نوم وزیر، مرکزي رابط ټاکي چې معمولاً د ښوونځي د "ملاتړ" او تدریس کوونکو لخوا ورسره مرسته کیږي. دغه مرستندویه کسان یا څارونکي د تحصیل لرونکو، ملا او یا مولوي په توګه نومول کیږي چې کله ناکله له ټولګیو څخه کتنه کوي، لکچر ورکوي او/یا د ښوونځي مدیریت او مالي کارکوونکو سره کار کوي څو د ښوونکو حاضري په کره ډول وڅاري او ثبت کړي. په همدې ډول هغوی د مدرسې

تعليماتو پر بنسټ له معارف سره د تنظيم کوونکو يا ملاتړو رول لوبوي چې په زياتو سيمو کې د هيواد د معارف نظام بشپړ کوونکي دي.

په داسي حال کې چې خبرې اترې اکثراً د ښوونځي شورا يا مشرانو تر پوښښ لاندې تر سره کيږي چې د منځګړي په توګه عمل کوي، ډيرى وخت اړيکه د ولايت او ولسوالۍ معارف مديرانو او د هغوى طالب سيالانو تر منځ موجوده وي. په حقيقت کې، د طالبانو چارواکي په ليوالتيا سره ټينګار کوي چې هغوى له معارف وزارت سره يو ځاى کار کوي، لکه څرنګه چې د هغوى يو چارواکى وايي: "موږ بايد په دې مسايلو کې د کابل دولت سره اړيکه ولرو څو د معارف په وضعيت کې ښه والى راولو." [12]

دا په څرګند ډول يوه نابرابره اړيکه ده. د وزارت چارواکو فکر کاوه چې که په غوڅه د طالبانو غوښتنو ته ځواب ورکړي، خپل ځان به په خطر کې واچوي (يا په ځينو مواردو کې که په بشپړ ډول منفي ځواب ورکړي). بالاخره دا مشران او مرستندويه کارکوونکي دي چې له طالبانو سره په معامله کې تر ټولو زيات ظرفيت لري، نه دولتي چارواکي.

## پاليسی

- *د ښوونځي ښوونکو او کارکوونکو کتنه:* هغه ښوونکي چې د ښوونځي شورا او معارف وزارت لخوا ټاکل شوي دي، څارل کيږي او د هغوى د کار مخينه ارزول کيږي. که چيرې ښوونکي د طالبانو لخوا تصويب شوي نه وي، په قوي احتمال د طالبانو د نفوذ په سيمه کې به په کار ونه ګومارل شي.[13] يو ښوونکي دغه بهير په لاندې ډول تشريح کړ: "مدير د ښوونکي په توګه زما وړانديز وکړ، خو مخکې له دې چې ومنل شم، طالبانو زما د کار مخينې په هکله بايد څيړنه کړې واى او له خلکو څخه يې زما په هکله پوښتنه کړې واى."[14]

- *د ښوونکو څارنه:* څو ښوونکو تشريح کړه چې د طالبانو څارونکي په نوبتي ډول د هغوى له ټولګيو څخه ليدنه کوي څو د هغوى تدريس وګوري او له هغې وروسته خپل نظر ورکوي.[15] په همدې ډول د طالبانو څارونکي د ښوونکو حاضري ګوري. څو ښوونکو رپوټ ورکړ چې د طالبانو مشران له دولتي چارواکو سره د حاضرۍ کتاب د کتلو لپاره راځي او که په يوې مياشت کې له يوې ورځې څخه زيات غيرحاضر وي، د هغوى تنخوا کميږي.[16] که چيرې ښوونکي ناکام شي او يا په يوه ډول د طالبانو له اوامرو څخه سرغړونه وکړي، ښايي د دولتي رسمي ميکانيزمونو له لارې بدل شي.[17]

---

[12] Whatsapp interview with Zabiullah Mujahed, October 2017 (11).

[13] Interview with Taliban fighter, Kunduz, November 2017 (28); interview with member of the Kunduz Provincial Council, November 2017 (24); interview with Taliban commander from Logar, July 2017 (9); interviews with teachers, Helmand, December 2017 (68, 69); interview with Nangarhar residents, December 2017 (80); interview with former student from Zabul, March 2017 (109).

[14] Interview with teacher from Logar, October 2017 (10).

[15] Interview with Taliban fighter, Kunduz, November 2017 (28); interview with district level education official from Chardara district, Kunduz, November 2017 (25); interview with member of the Kunduz Provincial Council, November 2017 (24); Whatsapp interview with Zabiullah Mujahed, October 2017 (11); interview with teacher from Logar, October 2017 (10); interview with professor from Wardak, October 2017 (3); interview with Logar Taliban fighter, October 2017 (1); group interview with Logar teachers, October 2017 (13.1, 13.2, 13.3); interview with former government education official in Kandahar, November 2017 (54); interview with government education official, Helmand, December 2017 (75); interview with students, Helmand, December 2017 (77, 76).

[16] Group interview with Logar teachers, October 2017 (13.1, 13.2); interview with Logar Taliban commander, October 2017 (9); interview with teacher/activist, Kunduz, November 2018 (29); interview with teacher/activist, Kunduz, November 2018 (29); group interview with elders from Chardara district, Kunduz, November (36); interview with teacher from Chardara district, Kunduz, November 2017 (36.1); interview with mother of students from Chardara, Kunduz, November 2017 (35.1); interview with government education official, Kunduz, November 2017 (40); interview with former government education official in Kandahar, November 2017 (54).

[17] Group interview with Logar teachers, October 2017 (13.1, 13.2, 13.3); interview with Taliban fighter, Kunduz, November 2017 (28); interview with member of the Kunduz Provincial Council, November 2017 (24).

- *د درسي نصاب کتل:* په درسي نصاب او تدریسي پروګرام کې اصلاحات توپير لري. په معمول ډول، د افغانستان د کلتور او اساسي قانون/ قوانینو په هکله کتابونه له درسي نصاب څخه حذف کیږي.[18] ځینې وختونه د انګلیسي تدریس هم بند وي. دغه مضمونونه په ټولیز ډول د اسلامي مطالعې پر مضمونونو بدلیږي. سره له دې، ځینې بدلونونه راغلي دي. د بیلګې په توګه، ښوونځي په هلمند کې یو ساعت وروسته پیل او رخصتیږي څو زده کوونکي له ښوونځي څخه مخکې مدرسې ته د تللو وخت ولري.

- *د زده کوونکو څارنه:* طالبان د زده کوونکو څارنه کوي، خو د ښوونکو په نسبت کمه وي. زده کوونکي باید دودیزې افغاني جامې واغوندي، ویښتان یې له یوه انچ څخه لنډ وي او ږیره ولري (د ځوانۍ په عمر کې).[19] زده کوونکي وایي چې هغوی د طالبانو لخوا تشویق کیږي چې دغه کارونه وکړي او زیات وخت په جوماتونو کې تیر کړي. ښوونکو وویل چې له ښوونځیو څخه د طالبانو د مشرانو لیدل د زده کوونکو پر چلند د پام وړ اغیزه درلودلې ده. د هغوی چلند ښه شوی او په زیات احتمال د ټولګي لپاره چمتو کیږي. که یو زده کوونکی خراب چلند ولري، ښوونکی احساس کوي چې ښه به دا وي چې دغه موضوع د طالبانو مشرانو سره شریکه کړي څو هغوی یې حل کړي.

- *جنسیتي تفکیک او د میرمنو پر زده کړو محدودیت لګول:* د طالبانو مشرتابه ویلي چې هغوی د ښځو له زده کړې سره هیڅ مخالفت نه لري. واقعیت دا دی چې د نجونو زده کړې د پیغلتوب په عمر کې دریږي (د څلورم او شپږم ټولګیو تر منځ) او دا هغه وخت دی چې له کور څخه بهر د ښځو په ښکاره کیدو لا نور بندیزونه هم پیل کیږي. هغوی معمولاً له پیغلتوب څخه مخکې له هلکانو سره یو ځای او/یا د نارینه ښوونکو لخوا ورته تدریس کیږي. له پیغلتوب وروسته، طالبان څلور اساسي شرطونه لګوي (لکه څرنګه چې په ټولو شلو ولسوالیو کې له مرکو څخه ښکاره کیږي). د نجونو هر ښوونځی باید بیله ودانۍ، د انګړ دیوال، ښځینه ښوونکې او له کور څخه ښوونځي او بیرته تګ لپاره ټرانسپورټي وسیله ولري. له دې سربیره نور محدودیتونه هم ښایي تر سره شي، لکه دا چې نجونې باید د ښوونځي یونیفورم وانه غوندي او باید چادري یا ټیکری په سر کړي، باید ګرځنده ټلیفون ونه لري، او د یوه رسمي ښوونځي پر ځای په یوه جومات یا مدرسې کې روزنه تر سره کړي.

- د لوړو زده کړو مقررات: په داسې حال کې چې دې څیړنې په پراخ ډول لوړې زده کړې تر پوښښ لاندې نیولي نه دي، خصوصي او دولتي پوهنتونه – آن هغه چې په ځانګړي ډول د دولت تر کنټرول لاندې ښارونو کې دي- مستثنا نه دي. په کندز ښار کې د یوه خصوصي پوهنتون استاد وویل، طالبان ټینګار کوي چې نجونې او ځوانان په بیلابیلو ودانیو کې زده کړې وکړي. کله چې پوهنتون دغې غوښتنې ته منفي ځواب ورکړ، طالبانو د نجونو او هلکانو د جلا کولو لپاره په ټولګیو کې پردې ځوړندې کړې. ورته رپوټونه په وردک او کاپیسا کې هم اوریدل شوي او هم طالبانو پر ښوونکو فشار راوست څو د طالبانو زده کړیالان کامیاب کړي. په ځینو مواردو کې د طالبانو مالیاتي غوښتنې د پوهنتون جوړیدو د مخنیوي لامل شوی دی او طالبانو هڅه کړې (له لږ بریالیتوب سره) څو د استادانو مقررول په خپل لاس کې واخلي.

له ستونزو سره سره زیاترو مرکه شویو فکر کاوه چې طالبانو دولتي تعلیمي سیستم ته وده ورکړې ده. طالبانو پر دې واقعیت ټینګار کړی دی چې زیات ښوونځي له فساد او ټیټ کیفیت څخه کړیږي

---

[18] Interview with Logar Taliban fighter, October 2017 (1); group interview with Logar teachers, October 2017 (13.1, 13.2); interview with government education official, Helmand, December 2017 (75); interview with students, Helmand, December 2017 (77, 76); interview with Logar teacher, October 2017 (10); interview with Nangarhar residents, December 2017 (80); various IEA letters, undated, from Wardak, Helmand and Herat.

[19] Interview with professor from Wardak, October 2017 (3); interview with Logar Taliban fighter, October 2017 (1); group interview with Logar teachers, October 2017 (13.1, 13.2); interview with Kunduz resident, October 2017; substantiated in various 'night letters' viewed by the author.

(د بیلګي په توګه، ښوونکي حاضر نه وي، درسي کتابونه د ویشلو پر ځای خرڅول کیږي). هغوی وښودله چې ښوونکي غیرحاضري نه کوي، زده کوونکي حاضر وي، کتابونه او لوازم نه ورک کیږي او په ټولګیو کې ښه نظم راغلی دی. ځیني کسان فکر کوي نجونې تر هغه مهاله چې ښوونځي ته د تللو اجازه لري، له ښه روزنیز کیفیت څخه برخمني کیږي.

په هر حال، له طالبانو څخه د ملاتړ په حیث د دې مسئلې بیانول به اشتباه وي. له اکثرو ښوونکو سره چې مرکه وشوه، له هغو کسانو پرته چې د طالبانو لخوا مجازات یا تنزیل شوي وو، له دې مسئلې څخه انکار کاوه او باور یې درلود چې هغوی ډیر لږ انتخاب درلود او باید له هر هغه چا سره یې کار کړی وای چې هلته وو.[20] ځیني ښوونکي غوره ګڼي چې د طالبانو د نظام لاندې کار ونه کړي او دنده پریږدي. زیاتو مرکه شویو والدینو احساس کاوه چې هغوی لږ انتخابونه لري، دا چې د طالبانو له تعلیمي قوانینو سره موافق وي که نه. زیاتو هغو کسانو چې غوښتل لوڼې یې له پیغلتوب وروسته زده کړې وکړي او د دې کار توانایي یې درلوده، سیمه یې خوشې کړې ده.

## د ښځو او نجونو زده کړې

په داسې حال کې چې طالبان وايي چې د نجونو پر زده کړو هیڅ بندیز نشته، دې څیړنې د طالبانو د شدید کنټرول لاندې سیمو کې د نجونو هیڅ منځنی ښوونځی پیدا نکړای شو. بر عکس، د نجونو کوم ښوونځي چې په لوګر او هلمند کې د طالبانو په شرایطو برابر وو، ګواښل شوي وو، ښوونکي ګواښل شوي وو او زده کوونکو ته په غیر مستقیم ډول خبرداری ورکړل شوی و چې ښوونځي ته ولاړ نه شي. د طالبانو یو ویاند ټینګار کاوه چې هغوی په څو مواردو کې د نجونو منځني ښوونځیو ته اجازه ورکړې چې پرانیستي وي. هغه وویل، په کوم ځای کې چې د نجونو ښوونځي تړل شوي، لامل یې دا و چې خلکو نه غوښتل خپلې لوڼې ښوونځي ته ولیږي. کله چې له هغه څخه د طالبانو د کنټرول لاندې سیمه کې د نجونو منځني ښوونځي په هکله سند وغوښتل شو، د طالبانو ویاند په ننګرهار کې د شیرزادو ولسوالۍ ته اشاره وکړه چې په کې طالبانو له خلکو سره مرسته وکړه څو د نجونو منځنی ښوونځی پرانیزي. د زیاتو هڅو سره سره، د دغه ډول ښوونځي موجودیت تایید نشو.

طالبان ټینګار کوي چې "د هغوی لخوا هیڅ ډول بندیز نشته"[21] چې نجونې د هغوی له شرایطو پورته منځنیو ښوونځیو ته ولاړې شي، خو هغه څه چې اکثراً تر سره کیږي، دا وي چې د هغوی شرایط هیڅکله نه پوره کیږي. له هغه ځایه چې امنیتي وضعیت مخ په خرابیدو دی، زیات والدین د مخنیوي اقدام په توګه خپل ماشومان له ښوونځیو څخه باسي او یا ښوونځیو ته د نجونو د لیږلو لپاره چندان لیوالتیا نه لري. ډار یو اساسي عامل دی او زیات کسان باور لري چې طالبان به هیڅکله ونه مني چې نجونې ښوونځي ته ولاړې شي. آن په کومو سیمو کې چې لیوالتیا وي، ډیر کم خلک د نجونو ژوند او خپل ژوند له خطر سره مخامخ کوي څو د طالبانو په وړاندې د نجونو له تعلیم څخه دفاع وکړي. دا چې نجونې آن د طالبانو د کنټرول پرته سیمو کې هم ښوونځي ته نه ځي، لاملونه یې ډیر او پیچلي دي. له لوګر څخه یو ښوونکي وویل: "طالبان وايي هغوی به په هغه حال کې نجونو ته له شپږم ټولګي پورته اجازه ورکړي چې ښوونکي یې ښځې وي، خو بیا هم خلک ډاریږي او ښايي لیوالتیا ونه لري. سربیره پر دې، زیاتره هغه کسان چې غواړي خپلې نجونې ښوونځي ته ولیږي، ښار ته تللي دي او پاتې کسان ښايي لیوالتیا ولري، خو د دې موضوع د بیانولو لپاره خپل غږ نه اوچتوي."[22]

دا به یوه ساده خبره وي چې ښوونځیو ته د افغان نجونو له دریمې برخې څخه د دویمې برخې د نه تللو له کبله ټول تور په طالبانو پورې کړو. په هر حال، زده کړو ته د نجونو او ښځو د لاسرسي

[20] Group interview with Logar teachers, October 2017 (13.1, 13.2, 13.3); interview with Logar teacher, October 2017 (10).

[21] Whatsapp interview with Zabiullah Mujahed, October 2017 (11).

[22] Interview with civil society activist and teacher, Kunduz, November 2017 (26).

نشتون د افغاني ټولنو، د افغانستان دولت، طالبانو، انجوګانو، تمویل کوونکو او د ملګرو ملتونو سازمان د ګډې پاتې راتلو له کبله دي. آن له شپاړلس کاله پانګې اچونې وروسته، په کلیوالو سیمو کې د ښځینه ښوونکو شمیر کم دی او دا چې د طالبانو د کنټرول لاندې سیمو کې کار وکړي، د شک وړ خبره ده. د داسې ښوونځي پیدا کول چې ودانۍ او انګړ ولري سخت کار دی. د افغانستان د ښوونځیو یو څلوېښت سلنه هیڅ ودانۍ نه لري (HRW، 2017).

د نجونو ښوونځیو د امنیت لپاره له طالبانو سره د سپین ږیرو د خبرو اترو زیاتې بیلګې مستند شوې. په هره بیلګه کې، کله چې سپین ږیرو د ښځینه ښوونکو لپاره معارف ریاست ته مراجعه کوله، د معارف وزارت چارواکو هغوی ته ویل چې هغوی ښځینه ښوونکې نه لري. د دې بدبختۍ پوهیدل او د معارف وزارت ځواب ته نه پام کول ستونزمن کار دی. سره له دې دغه کار په اقتصادي وضعیت کې بیان کیدای شي. آن هغه مهال چې ښوونځي له کلونو راهیسې بند وي، د ښوونکو د تنخوا او د زده کوونکو او نورو برخو لپاره لګښتونه دوام لري. ځینې ښوونځي ښایي هیڅ موجود نه وي. له هر دولس ښوونځیو څخه یو یې "خیالي ښوونځی" دی (خان، 2015). د معارف یو پخواني مرستیال وزیر طلوع نیوز ته وویل چې د دې وزارت لوړپوړو چارواکو په ښوونځیو کې د زده کوونکو د شمیر په اړه مبالغه کړې ده او د خپلو شخصي ګټو لپاره د هغوی شمیر د نوم لیکل شویو تقریباً دوه برابره ښیي. (شاهد، 2016)

د دواړو خواو د نخبګانو تر منځ د کلیوالیو خلکو په اړه چې د ښځو تحصیل نه غواړي، بحثونه شته. د معارف وزارت مرستیال د دولت لخوا د نجونو د روزنې مسئول په توګه د زیاتو مرکه شویو طالبانو په نسبت، له دې مسئلې سره ډیر کم موافق و او د دې څیړنې له لیکوالې څخه یې وغوښتل څو د نجونو د زده کړو د بحث پر مهال «د محافظه کارو کسانو ارزښتونو» ته ډیر درناوی وکړي. داسې ښکاري چې نه طالبان او نه د افغانستان دولت د ښځو له زیاتو زده کړو سره لیوالتیا لري. د طالبانو یو شمیر لوړپوړي مشران وایي چې د هغوی لوڼې د زده کړو خاوندانې دي، خو د هغوی د ژوندانه تجربه او ذهنیت د هغوی د لیکو او سرتیرو څخه په پام وړ ډول توپیر لري. آن په هغه ځای کې چې طالبان د ښځو له روزنې څخه ملاتړ کوي، پر هغو کسانو د دې کار د تحمیلولو له پایلو څخه ډاریږي چې باور لري دا یو له شرمه ډک کار دی.

تمویل کوونکي په دې برخو کې اکثراً ناسم پروګرامونه تمویلوي، لکه د ولایتونو په مرکزونو کې د ښوونکو روزنې دارالمعلمینونه چې اکثراً کلیوالې ښځې ورته د لاسرسۍ تمه نه لري. په هغو سیمو کې چې ښځینه کلیوالې ښوونکې کار کوي، د دوامداره روزنې پروګرام ته اړتیا لیدل کیږي. دغه کار زیاتې پانګې ته اړتیا لري، خو دا کار د هغو کارونو ورته دی چې د هیواد په محافظه کارو (عمدتاً د طالبانو د کنټرول لاندې) سیمو کې د ټولنې د قابلو د روزنې لپاره تر سره شوي دي. د ټولنې پر بنسټ زده کړو لپاره زیاتې پیسې چې اساساً اجازه ورکوي څو نجونې په خپلو شخصي کورونو کې زده کړې وکړي، مرسته کوي څو دغه ستونزه هم حل شي. له بده مرغه دغه کار دا احساس رامنځته کوي چې کورني ښوونځیو یا د ټولنې روزنې څخه ملاتړ په دې معنا دی چې د افغانستان ښوونځي په هغه ډول چې باید کار وکړی، نه یې کوي. د ستونزې یوه برخه هم دا ده چې دغه ډول ګټوره روزنه، فاسده او متضاده ده او دغه ډول د حل لارې د موجودو ملاتړو شبکو د ګډوډۍ لامل کیږي.[23]

د نجونو د زده کړو په هکله د طالبانو د ښکیل کولو لپاره لویه ستونزه ډیپلوماتیکه ماتې ده. نړیواله ټولنه د اوو کلونو لپاره د طالبانو له دریځ څخه خبره وه: طالبانو له 2011 راپدیخوا څراغ ورکړی دی چې د نجونو له زده کړو سره مخالفت نه کوي او دغه خبره یې په 2015 کې اعلام کړه. سره له دې، پر طالبانو ډیر کم فشار موجود دی چې پر خپلې دغه ژمنې ودریږي او د دې خبرې په هکله په مستقیم یا غیرمستقیم ډول ډیر کم بحث تر سره شوی چې دغه خبره عملاً په څه معنا ده. د نجونو د زده کړو په هکله د ځانګړې شویو پیسو او اعلامیو سره سره، په دې هکله د نړیوالې مرستندویه ټولنې په منځ کې د پام وړ چوپتیا موجوده ده چې پر دوه مخي ولاړه ده. ټول اصلي لوبغاړي یوه اخلاقي ژمنه لري څو ډاډمنتیا حاصله شي چې نجونې او په همدې ډول هلکان زده

[23] See Echavez (2016) for a detailed comparison health and education sector diversion and corruption at local level.

کړو ته لاسرسی ولري. که څه هم د دې زده کړو بنه او طریقه د دواړو خواو پریکنده او واقعبینانه خبرو اترو ته اړتیا لري.

## پر ښوونځیو بریدونه

په لومړیو کې د طالبانو جنګیالیو کله نا کله خو نه په سیستماتیک ډول د بیلابیلو لاملونو له کبله پر ښوونځیو بریدونه کول. پر ښوونځیو بریدونه تر سره کیدل، ځکه لکه څرنګه چې د طالبانو په مقرراتو کې بیان شوي، په هغوی کې د اشغال سمبولونه موجود وو. د بیلګې په توګه د 2006 کال لایحه وایي: "د اوسني لاسپوڅي رژیم لپاره کار کول مجاز نه دي، نه په مدرسو کې او نه هم د ښوونځي د ښوونکي په توګه، ځکه دغه کار کافر سیستم پیاوړی کوي. د نوي اسلامي رژیم د پیاوړتیا په موخه، مسلمانان باید یو مذهبي ښوونکی استخدام کړي او په جومات یا بل مناسب ځای کې زده کړې وکړي او د استفادې وړ درسي کتابونه باید د مجاهدینو یا طالبانو د وخت وي." (IEA، 2006، 4 مخ) پر ښوونکو بریدونه هم مجاز وو څو هغوی مجبور کړي چې له دولت سره خپل کار پای ته ورسوي: "هغه کسان چې په اوسني لاسپوڅي رژیم کې د مدرسي یا ښوونځي د ښوونکي په توګه په کار بوخت دي، باید ورته خبرداری ورکړل شي. که له دې کار څخه لاس نه اخلي، باید د وهلو او ټکولو لاندې ونیول شي. خو که یو ښوونکی د واقعي اسلام په خلاف تدریس کوي، باید د ولسوالی قومندان یا د ډلې د مشر لخوا ووژل شي." (IEA، 2006، 4 مخ)

د طالبانو د نفوذ او کنټرول په زیاتیدو سره هغوی د زده کړو لپاره د ټولني اړتیاو ته ځواب ویل پیل کړل. طالبانو په 2009 کال کې پر ښوونځیو د بریدونو مقررات له خپلې لایحې څخه لیرې کړل او په 2011 کال کې پر ښوونځیو بریدونه په پام وړ ډول کم شول (Giustozzi and Franco، 2012). د 2010 کال لایحه وایي: "له ټولو تعلیمي مؤسسو سره باید د اسلامي امارت د تعلیمي کمیټې د معیارونو او اصولو په پام کې نیولو سره سم چلند وشي. د ولایت او ولسوالی چارواکي باید د تعلیمي طرزالعملونو پر بنسټ عمل وکړي" (IEA، 2010، 53 مخ). د لایحې په دې نسخې کې دا یوازینی تعلیمي یا د ښوونځیو مأخذ دی، او د ښوونکو د وهلو ټکولو او وژلو په هکله د 2006 کال طرزالعملونه د 2009 په نسخې کې حذف شوي.

لکه څرنګه چې طالبانو د معارف په محتوا او شکل باندې په کنټرول کولو پیل وکړ، خپل ځان یې په معارف کې هم شریک کړ. هغوی د ښوونې او روزنې په وړاندې د زیات مالکیت او د لړ شک احساس پیل کړ. هغوی د نړیوالو ځواکونو په وتلو سره د برلاسی خاوندان شول. لکه څرنګه چې د طالبانو یو لوړپوړي غړي وویل: "هغه مهال چې 100000 نړیوال ځواک او د ولایتي بیارغوني ټیمونه موجود وو، موږ د هغوی د بیارغوني فعالیتونه د هغوی له پټو فعالیتونو سره یو ځای ولیدل. هغوی ښوونځي جوړول خو ورڅخه یې زموږ په ضد د جاسوسی کار اخیست. دا هیواد د افغانانو نه و، له دې کبله موږ له تعلیمي سیستم څخه ډاریدو. ناټو تقریباً په بشپړ ډول تللي ده، یوازې څو زره سرتیري په خپلو پایګاو کې ناست دي او جګړه نه کوي. طالبان په دې فکر کوي: "موږ اوس خپل هیواد بیرته په خپل لاس کې لرو او هغه څه چې تر سره شوي دي، هغه باید وساتو څو ورڅخه له افغانانو سره د مرستي لپاره کار واخلو."""[24]

زیاتره هغه ښوونځي چې د طالبانو د نفوذ لاندې سیمو کې پاتې دي، زیات بدلون یې کړی نه دی. په ټولیز ډول هغوی له دولتي درسي کتابونو څخه کار اخلي چې د تمویل کوونکو او ملګرو ملتونو سازمان لخوا تأیید شوي دي. هغوی پر استخدام او اداري پیاوړی کنټرول لري، خو دغه کنټرول بشپړ نه دی. د دغو فردي اقداماتو ورهاخوا دا د کورني درک بدلیدل دي چې د هغوی په مشارکت د اهمیت وړ په بهیر کې رامنځته شو. هغه ښوونځي چې د لویدیځوالو ښوونځیو په څیر پیژندل کیدل چې ماشومانو ته د پردیو او خطرناکو ارزښتونو په هکله سبق ورکوي، اوس منل شوي او

[24] Interview with former member of the leadership *shura*, March 2018 (93).

ورڅخه ملاتړ کيږي. سربيره پر دې، ښوونځي طالبانو ته اجازه ورکوي څو وښيي چې که بيا يې واک ونيو، دغه ډول به د ښوونځيو مديريت وکړي.

که لا واضح وويل شي، ښوونځي د جګړې د دواړو اړخونو لخوا د جګړې پر مهال د پايګاه او د اناخت د مورچلو په توګه کارول کيږي. په هر حال، د طالبانو رسمي سياست دا نه دی چې پر ښوونځيو چې ورڅخه د تعليمي مکانونو په توګه کار اخيستل کيږي، بريد وکړي. په حقيقت کې بيلابيل موارد شته چې طالبانو ټولنو ته خبرداری ورکړی چې د جګړې په ترڅ کې له ښوونځيو څخه ليرې واوسي. په هلمند او کندز کې چې د شديدو جګړو ډګرونه دي، طالبان معمولاً له يوې يا دوه مياشتو نسبي ټيکاو وروسته ښوونځي پرانيزي. په ځينو پيښو کې چې د جګړې پر مهال په هلمند کې د ښوونځيو ودانيو ته نه جبران کيدونکی تاوان ورسيد، طالبانو د هغوی پر ځای نورې ودانۍ په اجاره يا کرايه ونيولې.[25]

# روغتيا
# څارنه

## جوړښت

د روغتيا کميسيون، د ولايت تش په نوم وزيران ټاکي چې هغوی په خپل وار سره د ولسواليو او يا ځانګړو کلينيکونو لپاره د اړيکي کسان ټاکي. طالبان او انجوګاني او د هغوی دولتي سيالان په ټوليز ډول له يو بل سره مستقيمي اړيکي لري چې معمولاً د ځانګړو مسايلو لپاره د طالبانو لخوا تر سره کيږي. د روغتيايي تخصصونو کچه ټوپير لري. د دولت يا انجوګانو يو شمير لږ سيالان د ولايت يا سيمې په کچه په دې باوردرلود چې د طالبانو پرسونل روغتيايي مهارت نه لري (د هغوی زياته برخه د حافظ يا "حاجي ډاکتر" په توګه نومول کيده).[26] په ځينو مواردو کې د فني متخصص نشتوالي ستونزه جوړوله، خو زياترو مرکه شويو کسانو احساس کاوه کله چې سيمه ييز چارواکی د مديريت يا اغيزمنتيا په اړه مسايلو باندې تمرکز کوي او فني چارې په پام کې نه نيسي، کومه مسئله نه ده. دغه کميسيون له خپل تأسيس څخه تر 2014 پورې اساساً د ملا عباس لخوا رهبري کيده. عباس د طالبانو په واکمنۍ کې د روغتيا وزير او له 2001 کال وروسته د روغتيايي چوپړتياو د لاسرسی په تړاو د مرستندويه سازمانونو لپاره يو پياوړی همکار و، که څه هم ځان يې له طالبانو جلا کړ.

دغه جوړښت د لاسرسی وړ سرچينو او اړتياو او همدا ډول د طالبانو د ليوالتيا او کنټرول سره مطابقت لري. د بيلګې په توګه، په هلمند کې چې جګړه په کې شدت لري، د لوګر په نسبت د روغتيا چارو جوړښت ډير دقيق دی.

## پاليسۍ

- *د کارکوونکو ارزونه:* د ټولو کارکوونکو لپاره اړينه ده چې بايد د هغې سيمې وي چې په کې کار کوي، هغوی بايد له حرفوي پلوه د خپل کار لپاره پوره وړتيا ولري او بايد د سيمه ييزې روغتيا شورا لخوا ټاکل شوي وي او ورباندې توافق وي. طالبان د شخص د

[25] This seemed to be most common in Helmand, where it also seemed that schools were more frequently damaged in the fighting. Interview with teacher, Helmand, December 2017 (68); interview with government district education official Helmand, December 2017 (75); interview with high school students, Helmand, December 2017 (76, 77).

[26] Interview with healthcare NGO director, Kunduz, November 2017 (34); interview with doctor, Helmand (74); interview with healthcare NGO director working in Uruzgan, November 2017 (62); interview with government health official, Logar, November 2017 (49).

مخينې په هکله خپله څېړنه کوي او له يوه کس سره مخالفت معمولاً له دولت سره د هغه کس د اړيکو په هکله وي.[27]

- *د کارکوونکو د حاضرۍ څارنه:* د کارکوونکو حاضري تر څار لاندې نيول کيږي او د انجو يا روغتيا وزارت مسئول ته د غيرحاضرۍ د مودې په هکله د تنخوا کمولو له وړانديز سره رپوټ ورکول کيږي.[28] لکه څرنګه چې د روغتيايي چوپړتياو يو تن چمتو کوونکي وويل: "طالبان له دې کسانو څخه د تنخوا په اخيستلو ګټه نه کوي، خو په سيمه ييزې کچې موږ ته وايي چې هغوی بايد د حاضرۍ څارنه وکړي. له دې کبله هغه څه چې زموږ د تنخواګانو لست تر لاسه کوي، د دې څارنې بهير په ډاګه کوي. موږ د دغه کار پر بنسټ د کارکوونکو تنخوا ورکوو."[29] په ځينو سيمو کې د طالبانو د ظاهري اړتياو (د ږيرې اوږدوالی او دوديزې جامې) سره د مطابقت لپاره د کلينيکونو پر پرسونل فشار وارديده.[30]

- *د کلينيکونو څارنه:* د روغتيا ساتنو د اړيکو مرکزونه د زيرمه شويو درملو تيره شوې نيټه او د روغتيايي تجهيزاتو سم کار کول څېړي.[31] په همدې ډول کيدای شي هغوی د کلينيکونو د جوړولو يا ودانيو څارنه هم وکړي او مشوره ورکړي.[32] په همدې توګه طالبان د هلمند په ځينو سيمو کې د درملو بيه او ځانګړې چوپړتياوې لکه د ماشومانو زيږيدنه تنظيموي.[33] داسې ښکاري چې دولت لږ تر لږه په ځينو سيمو کې د طالبانو په اجازه د روغتيا شورا له لارې د کلينيکونو څار ته دوام ورکوي، خو نه په دې اندازه چې طالبان يې د خپل کنټرول لاندې سيمو کې تر سره کوي.

- جنسيتي تفکيک: دغه کار په زياترو کلينيکونو کې تر سره شوی دی، او په کوم ځای کې چې نه دی شوی، د طالبانو لخوا ورته خبرداری ورکول کيږي.[34] که څه هم په هلمند کې د ښځينه روغتيايي کارکوونکو د ګواښ په هکله يو لړ رپوټونه شته، خو داسې ښکاري چې طالبان هغوی ته ارزښت ورکوي. طالبانو په دوو پيښو کې هغه مهال اعتراض وکړ چې يوه ښځينه روغتيايي کارکوونکې له کاره وويستل شوه او په ځای يې يو سړی راغی، ځکه ښځو نشو کولای چې کلينيک ته ولاړې شي مګر دا چې بله ښځه استخدام شوې وای.

که له طالبانو سره کومه ستونزه وي، د روغتيا چوپړتياو چمتو کوونکي هغه په ټوليز ډول د روغتيا اساسي چوپړتياو د کميټې لاندې چې مشران په کې شامل دي، د روغتيا شوراګانو له لارې حل کوي. څو دولتي او د انجوګانو کارکوونکو چې ورسره مرکه شوې ده، احساس کاوه چې طالبان له حده زيات د روغتيا څارنې په مسايلو کې لاسوهنه کوي او يا يې د لاسرسۍ مخه نيسي. د دې په بدل کې، د دولت زياته مداخله او اداري فساد او همدا ډول له کلينيکونو څخه د امنيتي او مليشه

---

[27] Interview with Nangarhar residents, December 2017 (80); interview with healthcare NGO director, Kunduz, November 2017 (34); interview with government health official, Logar, November 2017 (49); interview with government healthcare official, Kunduz, November 2017 (33); interview with healthcare NGO worker, Logar, November 2017 (61).

[28] Interview with Logar Taliban fighter, October 2017 (1); interview with Nangarhar residents, December 2017 (80); interview with government health official, Logar, November 2017 (49); interview with healthcare NGO worker, Logar, November 2017 (61); interview with Taliban commander from Logar, July 2017 (9); interview with landowner from Kunduz, October 2017 (8); interview with Logar Taliban fighter, July 2017 (15).

[29] Interview with healthcare NGO director, Kunduz, November 2017 (34).

[30] Interview with nurse, Kunduz, November 2017 (46); interview with landowner from Kunduz, October 2017 (8); interview with government health official, Logar, November 2017 (49).

[31] Interview with Logar Taliban fighter, October 2017 (1); interview with Taliban commander from Logar, July 2017 (9); interview with a Taliban interlocutor, July 2017 (86); interview with government health official, Logar, November 2017 (49); interview with healthcare NGO worker, Logar, November 2017 (61); interview with landowner from Kunduz, October 2017 (8); interview with Logar Taliban fighter, July 2017 (15); interview with government health official, Kunduz, November 2017 (32).

[32] Interview with government health official, Logar, November 2017 (49).

[33] Interview with high school student, Helmand, December 2017 (76); interview with doctor, Helmand (74).

[34] Interview with doctor, Helmand (74); interview with government healthcare official, Kunduz, November 2017 (33); phone conversation with an aid worker regarding Sar-i-Pul, March 2018.

ځواکونو غلا د طالبانو د لاسوهنې په نسبت زیاته د پام وړ ګرځېدلې ده. طالبان له IHL څخه نسبتاً پیاوړی درک او روغتیایي کارکوونکو ته درناوی لري. دغه مسئله په دوامدار ډول د دولتي چارواکو، د کلینیکونو او انجوګانو کارکوونکو لخوا تأیید شوې ده.[35]

د دغه ډول تصور یوه بېلګه د یوې انجو د ولایتي سرپرست په خبرو کې چې د روغتیا ساتنې چوپړتیا چمتو کوي نغښتې ده، هغه بیانوي چې د "خپلو کسانو" د ګومارلو لپاره د دولتي چارواکو فشار د طالبانو د هر ډول فشار څخه زیات د اندېښنې وړ دی. ځینو آن وویل چې د کلینیکونو د کارکوونکو پر حضور باندې څارنه یو ګټور کار دی. د انجوګانو او وزارت څو چارواکو وویل چې هغوی د استخدام او څارنې په اړه په مستقیم او غیرمستقیم ډول له طالبانو سره کار کوي. نور کسان له طالبانو سره د مستقیمې اړیکې په هکله له احتیاط څخه کار اخلي. هغوی ټینګار کاوه چې یوازې د روغتیا شورا له لارې مذاکره کوي.

## د بنې روغتیا ساتنې د لاسرسي لپاره د 2017 "کمپاین"

طالبانو د 2017 کال په پسرلي کې د روغتیا ساتنې چوپړتیاو د ښه والي لپاره لړ تر لړه په څوارلس ولایتونو کې پر مرستندویه سازمانونو او د افغانستان دولت باندې همغږی فشار راوست. د ښې روغتیا ساتنې چوپړتیاو د فشار راوستلو ستراتیژیکه منځپانګه او همغږي د طالبانو لخوا په حیرانوونکي ډول د پیچلې، پلان شوې او منسجمې همغږۍ ځرګندونه کوي. په همدې توګه طالبانو د روغتیا چوپړتیاو لومړنی کڅوړې (BPHS) په هکله بشپړ معلومات وړاندې کړل چې د دولت تر مشرتابه لاندې د روغتیا ساتنې ملي پروګرام دی خو د انجوګانو لخوا پلي کیږي. د روغتیا لاسرسي په هکله یوه ستونزه دا ده چې زیاتره روغتیایي آسانتیاوې د روغتیا چوپړتیاو لومړنی کڅوړې د پلان جوړولو پر بنسټ په ښارونو او د ولسوالیو په مرکزونو کې ځای لري (چې د دولت لخوا کنټرول کیږي). د طالبانو استدلال دا و چې حکومتي سیمې د طالبانو د سیمو په نسبت ښو روغتیا ساتنو ته لاسرسی لري چې کیفیت یې هم ښه دی، له دې کبله هغوی له عادلانه لاسرسي څخه ملاتړ کوي.

هغوی د جراح ډاکترانو، نوي تجهیزاتو، د کارکوونکو زیاتوالي یا د روغتونونو جوړولو یا د لړو امکاناتو په سیمو کې د فرعي مرکزونو غوښتنه کوله چې په ځینو ولایتونو کې د لنډې مودې لپاره د روغتیایي کلینیکونو د بندیدو لامل شو، په داسې حال کې چې په دې هکله خبرو اترو دوام درلود. هغوی په کندز کې یو چټک او بې جنجاله حل ته ورسیدل. روغتیایي کلینیکونه په لغمان کې هوکړې ته د رسیدو په موخه د 45 ورځو لپاره وتړل شول. روغتیایي کلینیکونه په ارزګان کې د درې میاشتو لپاره تړلي پاتې شول.

مرستندویه سازمانونو د خبرو اترو له لارې وکړای شول چې په زیاتو ولایتونو کې د طالبانو غوښتنې راکمې کړي. ځینې انجوګانې د نورو په نسبت په خبرو اترو کې ښې وې. له کوچنیو انجوګانو څخه لږې غوښتنې تر سره شوې چې له ستراتیژیک پلوه یې بیوزلې ردوله او د طالبانو د غوښتنو په ځواب کې یې ځینې کوچنې مرستې او ښه والی ومنو. داسې ښکاري چې نورو انجوګانو په ټولیز ډول د طالبانو غوښتنې ومنلې.

---

[35] Interview with former Taliban official, Kabul, July 2017 (6); interview with Taliban interlocutor, Kabul, July 2017 (7); interview with aid workers, Kabul, November 2017 (14); interview with government official, Kabul, November 2017 (52); interview with healthcare NGO director, Helmand, December 2017 (73); interview with director and staff of healthcare NGO, Kabul, November 2017 (17); interview with regional director of a healthcare NGO, Kabul, November 2017 (18); interview with provincial director healthcare NGO, Kunduz, November 2017 (27); interview with nurse, Kunduz, November 2017 (46).

هغوی له دې ډاریدل چې که د طالبانو غوښتنې ونه مني، هغوی به په ډیره آسانه د دوی فعالیتونه بند کړي. په همدې دول هغوی باور درلود چې د طالبانو اندیښنو ته پام کول مشروع کار دی، ځکه د دې کار په پایله کې ملکي وګړو سره مرسته کیدله چې په مستقیم ډول ډیره لږه ګټه یې طالبانو ته رسیدله، او ښودله یې چې دغه سازمان بې پرې کار کوي او سمدستي اړتیاو ته پام کوي. طالبانو په خپل باور په دې کار کې یوه موخه درلوده: زیاتو کسانو منله چې د طالبانو په سیمو کې چوپړتیا ته لاسرسی او د روغتیا ساتنې کیفیت په حقیقت کې ډیر خراب دی.

آیا پر ښې روغتیا ساتنې فشار راوستل د جګړې ډګر د اندیښنو سره تړاو لري که ملکي وګړو ته د چوپړتیاو چمتو کولو سره؟ په ځواب کې ښایي دواړه موارد شامل وي. د جنګیالیو او د هغوی د کورنیو ښه درملنه، د جګړې ډګر انعطاف منل، روحیه او استخدام ښه کوي. طالبان له شک پرته له خپلو جنګیالیو سره ښه چلند کوي. په تیر کې جنګیالي پاکستان ته لیږدیدل. دا کار له خطره ډک و او د شدیدو ټپونو د پاملرنې لپاره کافي نه و. دم مهال د طالبانو د نظامي قومندې له هرو لسو څخه په یو کې د نظامي درملنې لارې چارې او میکانیزمونه شته چې د لیږد رالیږد او درملنې د مدیریت لپاره ځانګړي مرکزي اړیکې لري.[36] هغوی ګرځنده طبي تجهیزاتو ته لاسرسی لري، خو په ځرګند ډول د ټپیانو د ځارنې لپاره د روغتیا ساتنې چمتو کوونکو انجوګانو باندې فشار راولي.[37] کله چې جنګیالي ټپي کیږي، په معمول ډول له شاوخوا ښارونو څخه ډاکتران او نرسان راغوښتل کیږي څو لیرې پرتو سیمو ته ولاړ شي او د جنګیالیو درملنه وکړي.[38] یوه بله معموله طریقه د نرسانو یا د کلینیکونو کارکوونکو مجبورول دي چې هغه کوچنې عملیاتونه تر سره کړي چې د هغوی د تخصص او امکاناتو له ظرفیت څخه لوړ دي.

یو لږ شمیر مرستندویه سازمانونو خپلې تجربې شریکې کړې چې د طالبانو تر فشار لاندې راغلي وو. مرستندویه سازمانونو د طالبانو د همغږې ستراتیژۍ په ځواب کې اکثراً دغه کار په جلا ډول تر سره کاوه. د دې پر ځای چې مرستندویه ټولنه په ګډه دغه ننګونه په پام کې ونیسي، اکثراً تقاضا شوې غوښتنې یې له ځان سره ساتلې او په یوازې ډول یې له طالبانو سره خبرې اترې کولې. داسې ښکاري چې د روغتیا چوپړتیاو لومړنۍ کڅوړې ډیری تمویل کوونکي د طالبانو د کمپاین د پراخوالي یا پیښو په اړه ډیر لږ معلومات لري.

# عدالت

## جوړښت

عدالت د علماو شورا د محاکمو څانګې او د محاکمو کمیسیون لخوا تر سره کیږي چې په 2004 کال کې رامنځته شو. دا تر ټولو مهم، پراخ او اغیزمن غیرنظامي کمیسیون دی چې د امیر له تأیید څخه نیولی د سولې خبرو اترو او د لایحې تر مسودې پورې په هر څه کې مهم رول لري. د علماو شورا او د محاکمو کمیسیون درې اصلي څانګې لري: د علماو شورا، دارالافتا او محاکم.

د محاکمو څانګه تر ټولو لویه او پیچلې څانګه ده چې په کویټې او پېښور کې دفترونه لري او تقریباً په ټول افغانستان کې حضور لري. طالبانو د خپلې بلوا په پیل کې په 2004 کې خپل قاضیان مقرر

[36] Interview with a Taliban interlocutor, February 2018 (86); interview with an intermediary to the Taliban, February 2018 (95).

[37] Interview with a Taliban interlocutor, February 2017 (86); interview with Logar Taliban fighter, October 2017 (1); interview with an elder from Uruzgan, November 2017 (53); interview with an ex-teacher from Chardara, Kunduz, November 2017 (30); Interview with healthcare NGO director working in Uruzgan, November 2017 (62); interview with nurse, Kunduz, November 2017 (46).

[38] Interview with nurse, Kunduz, November 2017 (46); Interview with healthcare NGO director working in Uruzgan, November 2017 (62); interview with NGO worker, Kunduz, November 2017 (43); interview with elders, Baghlan, March 2018 (105); interview with doctor, Helmand (74); interview with government health official, Logar, November 2017 (49).

کړل او هڅه يې وکړه څو هغه عدلي سيستم چې په خپل دولت کې يې درلود، بيازوندی کړي. د محاکمو جوړښت د طالبانو د سرچينو او ځواک په پام کې نيولو سره له منځه ولاړ، خو داسې ښکاري چې په 2011 کال کې د دې کميسيون لاندې يو څرګند او واضح جوړښت راڅرګند شوی دی.[39]

د درې کچو محاکم شته. يوه ستره محکمه د استيناف لپاره په پاکستان کې ده، او د هغې لاندې د ولايتي کچې محاکم او لومړني محاکم معمولاً د ولسوالی په کچه ځای لري. ځينې ولسوالی د زندان تر څنګ په محاکمو کې منصوب شوي ثابت قاضيان لري او ځينې نورې ګرځنده قاضيان لري چې څو ولسوالۍ تر پوښښ لاندې نيسي. په هغو مواردو کې چې قاضيان له حد زيات بوخت وي، ولسوال معمولاً هڅه کوي چې دغه تشه ډکه کړي او اختلافونه د چټک عدالت او د ګرځنده قاضيانو د بار کمولو په موخه چې درنې قضيې څېړي، حل کوي.

د شخړو حل او فصل کول د غيرنظامي لاسوهنې لومړنی بنه ده چې د ملکي وګړو په وړاندې تر سره کېږي او لومړنی چوپړتياوې چمتو کوي. ملکي وګړي وينې چې طالبان د ارزښت خاوندان دي. مرکه شويو کسانو وويل چې طالبان څومره په آسانی سره شخړې حل کوي، آن که د طالبانو قاضيان په سيمه کې نه وي، له جزئياتو سره د سيمې ولسوال ته د عريضې له وړاندې کولو څو ساعته وروسته يو قاضي خپل ځان په موټرسايکل رارسوي او شخړې د ورځې تر پای حل کېږي. خو سره له دې، د طالبانو عدالت اجباري بڼه لري.

## د مراحلو بشپړول

- *د دوسيې وړاندې کول:* په هغو سيمو کې چې ثابت محاکم نه وي، شاکي له خپلې عريضې سره چې د مرستې غوښتنه يې کړې، ولسوال ته ورځي. د سيمې ولسوال په تورن پسې مکتوب لېږي او تورن راغواړي. که کوچنۍ شخړه يا مسئله وي چې په آسانی د حل کيدو وړ وي، ښايي د ولسوال لخوا حل شي. له دې پرته، د سيمې ولسوال قاضي راغواړي او د دعوا دواړو خواو ته د انتظار مودې په هکله خبر ورکوي. منځګړيتوب لومړنی پړاو دی. که دې کار پايله نه درلوده، هر شخص بايد شاهدان او يو ليکل شوی رپوټ راوړي څو قاضي د هغو پر بنسټ تصميم ونيسي. په هغه ځای کې چې ثابت محاکم وي، شاکيان په مستقيم ډول قاضي ته رجوع کوي. په ځينې سيمو کې په اوونۍ کې يوه ځانګړې ورځ وي چې قاضي شاکيان مني. طريقه يې تقريباً ورته ده. د محکمې په ترڅ کې د دوسيې د حل لپاره اکثراً د ولسوالی ملکي کميسيون څخه د کلي مشران رابلل کيږي. که جنجال له حد زيات لوی وي (د بيلګې په توګه، د ځمکې يا سرچينو په سر جنجال چې په کې څو ولسوالی، قومونه او/ يا کلي شامل وي)، ښايي له بهر څخه د طالبانو د مشرانو کميسيون راوبلل شي.

- *قضاوتونه:* له هغو قاضيانو سره چې مرکه وشوه، ويې ويل چې هغوی د حکم په ترڅ کې پر قرآن او شش کتاب باندې د سنت او احاديثو په ګډون د قانوني سرچينې په توګه پر قياس او اجماع (معمولاً له علماو او تحصيلکرده مشرانو څخه جوړه) ډډه کوي. خو د بيلګې د بيانولو پر مهال روښانه شوه چې اسلامي قانون يوازې يا آن تر ټولو مهمه مسئله نه ده. کلتوري قواعد، سليم عقل او سياسي ځواک هم اغيزه لري، که څه هم قاضيانو دغه خبره نه منله.

- *استيناف:* طرفين د حکم له صدور وروسته کولای شي دوسيه د ولايت په کچه محکمې کې استيناف ته وړاندې کړي او بيرته يې ستري محکمې ته واستوي. آن هغه کسان چې د محکمې له حکم څخه خوښ نه دي، د طالبانو قضاوت د ننګولو له ډاره ډير کم د

---

[39] See also Giustozzi and Backzo (2014).

استیناف غوښتنه کوي. د استیناف څو پیښې چې ورڅخه په مرکو کې یادونه وشوه، معمولاً د زورواکو کورنیو یا سوداګرو لخوا په مدني شخړو کې تر سره شوې وې.

- *له "جاسوسانو" سره چلند:* د جاسوسی تور له ملکي عدلي سیستم څخه بهر او د نظامي کمیسیون او د ولایت استخباراتي ادارې لاندې دی. بهیر یې ورته دی چې په کې نظامي کمیسیون شامل دی او پروسیجرونه یې د تیر په نسبت نسبتاً دقیق دي.[40] جاسوسي یو ستر جرم دی، خو خلکو په پرله پسې ډول ریوټ ورکړ چې آن یو والي هم کولای شي د اعدام حکم تصویب کړي.[41] د نه اعتراف په حالت کې باید نورې څېړنې هم تر سره شي. دغه بهیر کیدای شي زیات وخت ونیسي، ځکه څو شاهدانو او شهادت ته اړتیا لري او اکثراً د نفوذلرونکو کسانو په برخه کې پر یوې سیاسي مسئلې بدلیږي. دغه ډول قضیې په ټولیز ډول د مدني دوسیو په نسبت په چټکۍ او آسانۍ د حل وړ نه دي، او تورن کسان د لاسوهنې لپاره څو دلیلونه لري.

## د پیاوړتیا او کمزورتیا ټکي

د طالبانو د عدالت په هکله چې افغانان یې غوره ګڼي یا دا چې د طالبانو چټک عدالت د منصفانه عدالت په سترګه کتل کیږي او یا دا چې د افغانانو په منځ کې د امنیت احساس رامنځته کوي، زیاتې مقالې لیکل شوې دي. د افغانانو لپاره په دې هکله واقعیت ډیر پیچلی دی. د ټولو تصور دا دی چې د مدني شخړو حل او فصل په ځانګړي ټوګه د ځمکې په هکله د اسلامي اصولو او قواعدو پر بنسټ تر سره کیږي چې ټول یې مني، او خلک اکثراً منندوی دي چې دوسیې په چټکۍ سره حل کیږي. سره له دې، تصور کیږي چې لا تر اوسه د کمزورۍ او ناخوښۍ ټکي او دا احساس شته چې قضاوت اکثراً په خپل سر تر سره کیږي.

هغه کسان چې قضیه بایلي، ډیر لږ خوښ وي خو له استیناف څخه ډاریږي. له خپل حد څخه وتل او یا د قضاوتونو د شدت په هکله تصور یوه معمولي خبره ده. عبدل یو تنکي ځوان په هلمند کې وروسته له هغې څو ورځې په زندان کې تیرې کړې چې په تصادفي ډول یې د یو بل هلک لاس د لوبې (خرانبار) پر مهال مات کړی و. د ټپي شوي هلک مور او پلار د روغتیایي لګښتونو د ورکړې لپاره طالبانو ته ولاړل. کله چې عبدل پر بند محکوم شو، د ټپي هلک مور او پلار وارخطا شول، ځکه دغه کار کولای شي د دواړو کورنیو تر منځ ستونزه رامنځته کړي. د طالبانو زندانونه اکثراً د هوایي او ځمکني برید لاندې راځي او هغوی ډاریدل داسې نه چې عبدل ووژل شي او یا په دولتي بند کې وځورول شي. هغوی له قاضي څخه وغوښتل چې عبدل خوشې کړی او د عبدل لخوا دوی په خپله جریمه ورکړي څو هغه آزاد شي.

افغانان په ځانګړي ډول هغه کسان چې ښارونو په مرکزونو کې اوسیږي، د انتخاب لپاره څو عدلي سیستمونه لري – دولتي محاکم، د طالبانو محاکم او په ټولنه کې د شخړو د حل سیمه ییز ډولونه – چې کولای شي یو یې انتخاب کړي. د مدني قضیو په هکله د طالبانو محاکم د هغه څه په نسبت چې ښودل کیږي، ښایي لږ دوام وکړي. خلک د نفوذ لاندې سیمه کې د بدلون رامنځته کیدو وروسته قضیې بیرته سپړي، په ځانګړي ډول د سرچینو او ملکیتونو په هکله چې دوسیه د لومړي ځل لپاره د هغوی پر خلاف فیصله شوې وي.

څو تنو قاضیانو په بیلابیلو ولایتونو کې د طالبانو لخوا د رسمي اسنادو د غلا کولو په هکله خبرې وکړې چې د ځمکې یا پخوانۍ قضایي دعوا په هکله د ډاډمنتیا تر لاسه کولو لپاره دغه کار کوي.

[40] Interview with Taliban fighter, Kunduz, November 2017 (28); interview with UN officials, Kabul, November 2017 (58); interview with senior Taliban figure, December 2017 (63).

[41] The Lahya somewhat contradicts this, giving authority to mullahs and other officials involved in spying cases the authority to sentence individuals to execution. While other officials may pass an execution sentence, individuals anonymously reported that the governor must ultimately approve it.

له دې پرته، هغوی دولتي چارواکي مجبور کړي يا يې رشوت ورکړی چې ځانګړي اسناد ورته غلا کړي.

داسې احساس کېږي چې طالبانو د غيرعادلانه اعدامونو د مخنيوي او د حرفوي توب او منصفانه توب د ښه کيدو په موخه ډېر کلک طرزالعملونه په پام کې نيولي دي. له هغو قاضيانو سره چې مرکه وشوه، ويې ول چې اوس زياتو کسانو ته په پاکستان کې ځانګړي ټرينګونه ورکول کېږي. ځينو کسانو د آزموينو د تيرولو په هکله رپوټونه ورکړل څو د اسلامي قوانينو په اړه د هغوی پوهه وآزمايي. له دې مخکې ډېر لږ ټرينګونه او آزموينې تر سره کيدې.[42] په همدې ډول ځينې قاضيانو او ملکي وګړو رپوټ ورکړ چې د قاضيانو د څار کميسيون په پاکستان کې ميشت دی او د طالبانو د قاضيانو او محاکمو د څارنې لپاره افغانستان ته سفر کوي، خو داسې ښکاري چې دغه څارنه محدوده ده.[43] سربيره پر دې، ملکي وګړو د کندز او هلمند په څير سيمو کې په ټوليز ډول د طالبانو عدالت د مجازاتو په هکله "بد" احساس درلود.

## د طالبانو مقررات د ټولنيز کنټرول په حيث

له لايحې پرته، د طالبانو حقوقي مقررات په سم ډول راټول شوي نه دي او ملکي وګړي ورته لاسرسی نه لري. د طالبانو مقررات پر يوې پاڼې په جومات او يا لمانځه کې اعلانيږي. دغه مقررات له يوې سيمې تر بلې توپير لري، خو زياته برخه يې د طالبانو د حکومت له وخته خلکو ته آشنا دي. ټلويزيون، راډيو او/يا ځيرمن ټليفونونه بند دي. نارينه بايد ږيره پريږدي، خپل ويښتان بايد تر يو انچ لنډ کړي او دوديزې جامې واغوندي. ښځې له محرم پرته بازار ته تللی نشي. طالبان په ځينو سيمو کې د ناوې لپاره ورته بيه ټاکي، چې اکثراً له هغې بيې څخه ډېره ټيټه وي چې ښځې يې په خپله ټاکي، چې دا کار په خپل وار سره ښځې په قاروي او نارينه خوشالوي. هيڅ ډول موسيقۍ ته اجازه نشته، خو په ودونو کې ښايي له استثنا څخه کار واخيستل شي. سګريټ بند دي. هر څوک بايد په ورځ کې پنځه ځله د لمانځه لپاره جومات ته ولاړ شي او حتی بايد د جمعې په لمانځه کې بندي وي، او داسې نور.

په داسې حال کې چې د طالبانو د امر بالمعروف پوليس نور نشته، دغه مقررات اکثراً د ښوونځي د څارنې، ملا او يا سيمه ييزو طالبانو لخوا اجرا کيږي. د دې مقرراتو مخالف اقدامات هره ورځ دوام لري - هلکان خپل ويښتان اوږده پريږدي او هغه تر خولې لاندې پټوي، خلک ځيرمن ټليفونونه پټوي - خو د نيولو او د طالبانو د مقرراتو د ماتولو د پايلو ډار ډېر واقعي وي. دغه موارد نه يوازې مجازات لري، بلکې اجباري بندي کول او تعقيب هم په کې شامل وي. لکه څرنګه چې د کندز يوه اوسيدونکي ووېل: "که د لمانځه لپاره جومات ته حاضر نشې، هغوی به تاسې مجبور کړي چې د سيند په منځ کې ودريږئ. اوبه ډيرې سړې وي، خو دا کار د درد ورکولو لپاره نه اجرا کيږي، بلکې د شرمولو او سپکولو لپاره تر سره کيږي."

زياتو کسانو خپل احساس داسې بيان کړ چې بايد په چټکۍ او بې له غږ پورته کولو له موجود وضعيت او د طالبانو چارواکو سره ځان عيار کړي. دې کار هغوی ته اجازه ورکړه چې "خپل ځان چمتو کړي" چې له مقرراتو سره توافق وکړي يا سيمه خوشې کړي. ښځو د مخنيوي کوونکي اقدام په توګه له محرم پرته بازار ته له تګ څخه ډډه وکړه او خپل فعاليتونه يې محدود کړل. نارينه د ږيرې په پريښودلو او د کميس او پرتوګ په اغوستلو پيل وکړ. د ښوونځيو او کلينيکونو او مالياتو مقررات او په جوماتونو کې وعظ او نور اقدامات فشارونه زياتوي. هغه کسان چې هلته

[42] Interview with senior Taliban figure, December 2017 (63); interview with UN officials, Kabul, November 2017 (58); interview with Zabul Taliban judge, March 2018 (108); interview with ex-Taliban commander, Kunduz, November 2017 (44).

[43] Interview with provincial director healthcare NGO, Kunduz, November 2017 (27); interview with Zabul Taliban judge, March 2018 (108); interviews with aid workers in Laghman and Nangarhar, November 2017 (57); interview with provincial government official, Logar, February 2018 (91).

پاتي کيږي، ښايي په آسانی سره د سيمي د خوشي کولو توان ونه لري او يا ښايي د طالبانو د ژوندانه له څرنګوالي سره موافق وي.

زيات کسان د دې کارونو د نه اجرا کولو لپاره ښارونو ته ولاړل. ځيني د ځمکي خاوندان کله نا کله د ځمکي د ځار لپاره راځي او يا خپل يو زوی پريږدي څو ځمکه وساتي. دغه کار د طالبانو په سياست کي هيڅ ستونزه نه لري، خو طالبانو لږ تر لږه په شمال کي د مقرراتو په اجرا کولو پيل کړی دی، چي که يو څوک په افغان پوليس يا امنيتي ځواکونو کي زوی يا زوم ولري، بايد خپل زوی يا زوم په درې ورځو کي طالبانو ته راولي. که دغه کار تر سره نه کړي، بايد سيمه پريږدي، او د هغي ځمکي او يا شتمنی د مالکيت حق له لاسه ورکوي چي ورڅخه پاتي کيږي. طالبانو په يوې مرکي کي ومنله چي دغه مقرره اساساً د کاغذ پر مخ وه، خو په دې وروستيو کي اجرا کيږي. د طالبانو يو سيمه ييز قومندان وويل چي د تسليم شويو کسانو "جنايتونه" د هغو د جديت په پام کي نيولو سره څيړل کيږي. که چيرې سرتيري خپله وسله پر ځمکه کيږدي، بخښنه وغواړي او د درناوی وړ يو مشر د هغوی تضمين وکړي، طالبان هغوی ته د "بيرته يوځای کيدو" اجازه ورکوي. دغه ډول تسليميدل نسبتاً رواج لري خو هيڅکله يې تضمين نه کيږي.

د جاسوسانو اعدامول د دې لپاره تر سره کيږي چي کسان له يوه اړخ څخه بل اړخ ته لاړ نشي. ملکي وګړي په پراخ ډول په دې باور دي چي طالبان په دولت کي زيات جاسوسان لري چي "په هرڅه پوهيږي". ملکي وګړو د طالبانو د استخباراتو اداري په هکله داسي خبري کولې چي له هرڅه خبره ده. په حقيقت کي، د جاسوسی تورونه اکثراً د دوه طرفه جاسوسانو د روزني لپاره کارول کيږي. دولتي چارواکي د تيرو جنايتونو د بخښني لپاره طالبانو ته د جاسوسی لپاره خپل موافقت اعلانوي يا استشهادي بريدونه تر سره کوي.

نور کسان دومره ښه بخت نه لري. هغه کسان چي په جاسوسی تورن وي د طالبانو لخوا مجبوريږي چي اعتراف وکړي څو له اعدام وروسته د هغوی اعتراف هغو درې کسانو ته ورکړل شي چي د تورنو لخوا ټاکل شوي وي چي دوی ولې محکوم او اعدام شوي. په همدې توګه اعتراف کول د ډار خپرولو لپاره کارول کيږي. دغه ډول اعترافونه په کندز کي نورو ته د خبرداری په توګه په سيستماتيک ډول له جمعي لمانځه وروسته له جوماتونو څخه خپريږي.

## ماليات او عايدات

### جوړښت

مالي کميسيون له لومړيو جوړ شويو کميسيونونو څخه يو دی چي د عايداتو د راټولولو يو پيچلی سيستم لري. دا د طالبانو د مالي سرچينو په اړه يو ټوليز ليد نه دی، بلکي د اړوندو مهمو مالي ميکانيزمونو يوه ټوليزه کتنه ده چي ملکي وګړي په ورځني ژوند کي ورسره مخامخ دي. مالي معلومات د نورو برخو په نسبت چي په دې څيړنه کي تر پوښښ لاندې نيول شوي دي، په دقت سره ساتل کيږي او په معمول ډول له طبيعي بڼي ويستل شوي.

مالي کميسيون د ګل آغا په نوم د طالبانو يو تر ټولو پياوړي کس لخوا رهبري کيږي چي مخکي د ملاعمر نږدې مشاور و. دغه کميسيون د هر هغه چا د پياوړتيا په پام کي نيولو سره چي عايد کنترولوي، له سياسي پلوه يو متضاد او سياسي کميسيون پاتي شوی دی. د مالي کميسيون تر رهبری لاندې د فعاليتونو يا نورو څانګړو برخو لکه برښنا، کانونو، ګمرکونو او احجارو لپاره بيلابيلې څانګې ځانګړې شوې دي. له دې کميسيون سره موازي د معدني توکو، انرژی او ځمکي لپاره نور کميسيونونه شته. په داسي حال کي چي ټول يو ډول کارونه لري. مرکو وښودله چي جلا جغرافيايي سيمي تر پوښښ لاندې نيول شوي او هر کميسيون د بيلابيلي لارې نه عايد لاسته

راوړي. په همدې ډول نظامي کمیسیون هم ځانګي یا اړوندې ادارې لري چې عاید تر لاسه کوي، لکه د غنایمو ځانګه.

د مالي چارو کمیسیون د ولایت او سیمې په کچه مالي چارواکي ټاکي او څو ځانګي یا برخې یې په کار ګومارلي چې د مالیاتو او عایداتو په ځانګړو مسایلو پورې تړاو لري، لکه زکات او عشر، مخدره توکي او ګمرکونه. لکه څرنګه چې هغوی په دولت کې وو، د مالیاتو وضع کول له ځمکې څخه د دودیزې مالیې او د اسلامي مالیاتي سیستم او عاید جوړښت دی. د مالیاتو وضع کول په سیستماتیک ډول اجرا کیږي، خو نه په یو شان، ځکه دغه مشترکې پالیسۍ په ټول هیواد کې په بیلابیل ډول پلي کیږي.

## زکات او عشر

طالبان د اسلامي چوکاټ پر بنسټ له مالیاتو سره د عشر او زکات په ټولولو مرسته کوي او هغه د خپلو موخو مطابق تر سره کوي. زکات د قرآن حکم ته اشاره کوي چې مسلمانان باید د خپل عاید 2.5 سلنه بیوزلو ته ورکړي. ځینو کسانو وویل چې طالبان له هرو 1000 افغانیو څخه 25 افغانۍ زکات اخلي، ځینو نورو کسانو دا کار داوطلبانه وباله، سره له دې ځینې نورو دغه کار ته د خپل سرۍ نوم ورکړ.

عشر د هر ډول تولید یا محصول یو پر لسمه برخه ده چې د جنس یا نقدي شکل په ټوګه بازار ته راوړل کیږي. لکه څرنګه چې مرکه شویو کسانو وویل، اړینه نه ده چې په عمل کې هرومرو یو پر لسمه برخه واخیستل شي. ځینې وخت عشر هغه مالیه ده چې پر خصوصي سوداګریو وضع کیږي او ځینې وخت نه، خو هغوی په معمول ډول لږ تر لږه د خپل عاید یو پر لسمه برخه ورکوي. دغه مسئله د ولسوالیو او ښارونو په مرکزونو کې چې د طالبانو تر کنټرول لاندې نه دي، صدق نه کوي بلکې په هغو ځایونو کې صدق کوي چې طالبان په کې په آزادانه ډول ګرځي راګرځي لکه لشکرګاه، د کندز ښار، د غزني ښار او په همدې ډول د کابل یوه برخه.

د ځمکې کوچنیو خاوندانو سره د مذاکرې لپاره ځای نشته، خو د سوداګریو خاوندان زیات ځواک لري. طالبان د کندز ښار له یوه خصوصي کلینیک څخه د ځانګړو درملو د یوه لست په بدل کې د پیسو غوښتنه کوي. که د کلینیک خاوند احساس وکړي چې له هغوی څخه له حده زیاته غوښتنه شوې ده، منفي ځواب ورکوي. خصوصي رسنیز شرکتونه هم له غوښتنو سره مخامخ شوي، خو ځینو یې په دوحه کې سیاسي کمیسیون سره له مذاکرې وروسته له ورکړې ډډه کړې ده.[44] طالبان خپل مالیاتي بنسټ پیاوړی کوي او هڅه کوي هر ډول نهاد چې مالیه ورکولای شي، د اجبار، ګواښ او زورزیاتي له لارې مجبور کړي، خو په بیلابیلو پیښو کې له مذاکرې څخه هم کار اخلي.

پر ودانیزو کارونو هم مالیات رواج لري، که نوي جوړیږي که بیارغول کیږي. روغتیایي کارکوونکو د بیارغوني یا نوي کلینیک د مالیې وضع کولو د هڅو رپوټ ورکړ. انجوګاني په ټولیز ډول ودانیز کارونه فرعي قراردادي ته ورکوي او تمه لري چې فرعي قراردادي د مالیاتو مسئلې سره جوړجاړی وکړي. یوه استاذ وویل چې د ودانیز کار د بودیجې 10 سلنې لپاره د طالبانو غوښتنه د دې لامل شوه چې د پوهنتون کار وروسته پاتې شي.

د عایداتو سود او نظامي دندو تر منځ اړیکه کولای شي شخړه رامنځته کړي. په کوم ځای کې چې د سړکونو جوړول په ځانګړي ډول نظامي اهداف تر ګواښ لاندې راولي، د هغوی کار درول کیږي، که څه هم مالیات یې ډیر سود ولري. د سیمې خلکو ګټه هم له مالي اندیښنو هاخوا نه ځي. زیات موارد شته چې په هغې کې پراختیایي او ودانیزې پروژې د مالیاتو نه ورکولو له کبله د میاشتو یا آن کلونو لپاره بندې شوې دي.

[44] Whatsapp interview with owner of Afghan media company, February 2018 (97).

پر مخدره توکو مالیات چې په مرکو کې هم د عشر په توګه یاد شوي، د پام وړ عاید لري، خو دا چې طالبان تر کومې اندازې د مخدره توکو په سوداګرۍ کې مستقیم لاس لري، د کارپوهانو تر منځ وربانديې بحث شته. دا د طالبانو د عایداتو لپاره یوه اړینه سرچینه ده چې د طالبانو مرکه شویو کسانو په ځانګړي ډول په هلمند کې غوښتل دغه ټکی برجسته کړي. په هر حال، آن د کوکنارو د عایداتو په هکله د هغوی له لاپو شاپو څخه ډکې خبرې هم د طالبانو ښکیلتیا په ډاګه کوي. ګټه یې دومره د پام وړ نه ده کومه چې د امریکا او افغانستان دولت اټکلونه ښیي.

په حقیقت کې طالبان د مستقیمې ښکیلتیا پر ځای معمولاً له دغه ډول فعالیتونو څخه مالیات اخلي. هر څه چه وي، کوکنارو ته اجازه ورکول او د کرلو لپاره یې آسانتیا برابرول ستراتیژیک اهمیت لري، ځکه د طالبانو حکومت سره د ملکي وګړو د موافقت تضمین کوي. ورته چلند د نورو ګټورو جنایتکارو شرکتونو په وړاندې غوره شوی دی، لکه قاچاق او ناقانونه اقتصادي فعالیتونه. طالبان ښایي په مستقیم ډول په دې کار کې لاس ونه لري، خو ورڅخه ګټه اخلي. دا چې دغه پیسې چیرته ځي، روښانه نه دي. طالبان هم ښایي د افغانستان دولت په څیر له ورته ستونزو سره مخامخ وي چې هیڅکله نه دی توانیدلی له پولې څخه د تیریدو پر مهال پیاوړي سیمه ییز کسان ونیسي څو د مالیاتو د پام وړ برخه مرکز ته ورسوي.

## مخابرات او
## عامه تأسیسات

داسې ښکاري چې د ګرځنده ټیلیفونونو خصوصي شرکتونه په منظم ډول خپل مالیات د سیمه ییزو او په دوبۍ کې د مذاکرو له لارې ورکوي.[45] په همدې ډول هغوی د چوپړتیاو د وړاندې کولو له کبله د طالبانو تر څارنې لاندې دي. د ګرځنده ټیلیفونونو د چوپړتیاو په وړاندې کولو کې د هغو معمولي مقرراتو په پام کې نیول شامل دي چې باید له تیاره وروسته ګل وي (احتمالاً نړیوالو او افغان ځواکونو ته د خبر رسولو د کمولو په موخه). دغه کار آن د کندز په څیر لویو ښارونو کې تر سره کیږي او اکثراً په پاشلي ډول وي؛ د بیلګې په توګه په ارزګان کې د ټولو خصوصي چمتو کوونکو مخابراتي چوپړتیاوې په بشپړ ډول د 2017 کال په ټول بهیر کې بندې وې. د طالبانو په سیمو کې د سلام مخابراتي دولتي کمپنۍ چوپړتیاوې منع دي.

د عامه تأسیساتو په هکله، طالبان په زوره د برېښنا دولتي شرکت (د افغانستان برېښنا شرکت) څخه د برېښنا پیسې راټولوي. طالبان لږ تر لږه په اوو ولایتونو کې د برېښنا د پیسو زیاته برخه راټولوي. په کندز کې د برېښنا اداره اټکل کوي چې د برېښنا بِل د ورکړې په هرې دوه میاشتنۍ دورې کې شاوخوا له 100000 څخه تر 115000 ډالرو عاید له لاسه ورکوي.[46] په هلمند کې د برېښنا شرکت اټکل کوي چې د طالبانو ممانعت په عوایدو کې د 45 سلنې ضایعاتو لامل کیږي.[47] په اصل کې، طالبان وایي که د برېښنا شرکت هغوی ته د پام وړ مالیات ورکړي (د هرې میاشتې د تقریباً ټولې ورکړې مبلغ سره برابر)، هغوی به برېښنا ته اجازه ورکړي چې د برېښنا بِل راټولول له سره پیل کړي.[48]

طالبان اړتیا نه لري چې په هرې دورې کې بِل ولولي، هغوی په خپله اټکل کوي او هر څه چې یې له نظره منصفانه راغی، د برېښنا د ورکړې بِل د دولتي شرکت د برېښنا بِل په څیر صادروي. که د برېښنا دولتي شرکت د طالبانو په سیمو کې برېښنا بنده کړي، طالبان د دولت تر کنټرول لاندې سیمو کې د برېښنا پر ستنو برید کوي څو برېښنا مجبوره کړي چې سمدستي برېښنا چالانه کړي. د

---

[45] Interview with Logar Taliban commander, March 2018 (99); Whatsapp interview with Zabiullah Mujahed, November 2017 (45); see also Chopra (2016) and Dominguez (2016).

[46] Interview with Breshna official, Kunduz, November 2017 (23).

[47] Interview with Breshna official, Helmand, November 2017 (71).

[48] Interview with Breshna official, Kunduz, November 2017 (23); interview with Breshna official, Helmand, November 2017 (71).

برښنا د یوه کارکوونکي په وینا: "هغوی موږ ته ګواښ کوي چې ستونزه حل کړو یا د پوښښ ساحه پراخه کړو، او که موږ دغه کار په چټکۍ تر سره نه کړو، هغوی ستنې الوځوي. په دې حالت کې موږ د یوې ستونزې د حل پر ځای له دوو ستونزو سره مخامخ کیږو. له دې کبله معمولاً هڅه کوو چې په چټکۍ سره د طالبانو غوښتنې اجرا کړو."[49]

دغه کار اکثراً په سیمه ییزې کچې پیښیږي، خو بغلان ولایت مستثنی دی. بغلان د برښنا ستنو اصلي ځای دی چې له تاجکستان او ازبکستان څخه کابل او څلورو نورو ولایتونو ته برښنا انتقالوي. کله چې د طالبانو په سیمه کې په بغلان کې برښنا بندیږي، طالبان د برښنا پر ستنو برید کوي او پلازمینې ته د برښنا لیږد ګډوډوي، دغه کار د خبرونو په سرلیک بدلیږي او د ټولو په یاد راولي چې طالبانو څومره پیاوړي دي. احتمالاً پوهیږو چې دغه ډول شدید اقدام هغوی د میلیونونو افغانانو په منځ کې چې د هغوی برښنا بنده شوې ده، تر کومې کچې بدناموي. هغوی په خپل وب سایټ کې یوه اعلامیه خپره کړې او ویلي یې دي چې هغوی د طالبانو په سیمو کې "د برښنا بندیدو او نورو چوپړتیاو په ځواب کې" دغه کار تر سره کړی دی او د خپلو غوښتنو یو لست یې د "کابل چارواکو" ته لیږلی څو د برښنا ځانګړې مسایل حل کړي (IEA، 2018).

## د عاید له تولید څخه ورهاخوا

د طالبانو د مالیاتو او عایداتو په هکله د پام وړ څیړنې شته. هغه څه چې اکثراً له پامه غورځول کیږي، دا دي چې د مالیاتو ګټه له عاید څخه ورهاخوا ده. مالیات یو له هغو لارو څخه دي چې څرګندوي بلواګر حکومت "کوي". طالبان د میتر نه لوستلو او یو شان تعرفې له کبله احتمالاً د برښنا د ورکړې پیسو د پام وړ برخه له لاسه ورکوي. افغانان بې له دې چې د طالبانو پام وي، احتمالاً له دې معاملې څخه ګټه پورته کوي چې یوه جلا مسئله ده. طالبان په خپله د خپلې برښنا بل جوړوي چې په ځینو مواردو کې د برښنا بلونو ته ورته وي. هغوی له رسمي سیستمونو څخه د تقلید لپاره زیاتې هڅې کړې دي، په داسې ډول چې په خپل دې کار کې بریالي شوي چې د دې سیستمونو پر اعتبار برلاسی تر لاسه کړي.

مالیات په تیوري کې پر یوه ټولنیز قرارداد دلالت کوي. که څه هم د طالبانو مالیات توپیر لري، خو په خپل سر نه دي. هغه په داسې ډول طرحه شوي چې طالبان د یوه دولت په څیر ښکاره کړي. کله چې مالیات نه ورکول کیږي، طالبان اکثراً استدلال کوي چې هغوی د دې کار په بدل کې امنیت خوندي کوي. په دې کې تل له ګواښ او اجبار څخه کار اخیستل کیږي، خو دا د دولت په څیر عمل دی چې د مالیاتو په برخه کې د طالبانو مباحثې ته شکل ورکوي. دا چې د هغوی مالیات په اسلامي اصطلاحاتو جوړ شوي، د ټولنیز کنټرول په معنا دي. د بیلګې په توګه، زکات د مؤمنانو له نظره د اسلام له پنځه اساسي بناو څخه دی او د اسلامي ژوندانه بنسټ جوړوي. د زکات ورکړه له طالبانو څخه اطاعت کول نه دي بلکې د یوه ښه مسلمان بیلګه ده.

# وده، مخالفت او چنه وهل (مذاکره)

## د اسلامي امارت دورې د سیاستونو تکاملي بهیر

د طالبانو د بدلون د څرنګوالي په هکله ډیپلوماتانو او کارپوهانو په مرکو کې خپل نظرونه په آزاد ډول بیان کړل: آیا د هغوی فعالیتونو عملي بڼه غوره کړې او لږ ایډیولوژیک چلند کوي، آیا هغوی د ښځو د رول په برخه کې زیات منل شوي او داسې نور. هغه څه چې د دې ډیپلوماتانو او

[49] Interview with Breshna official, Kunduz, November 2017 (23).

کارپوهانو خبرې ښکاره کوي، دا دي چې له طالبانو سره به په راتلونکي کې د ګډون هوکړه څرنګه وي او دا ارزوي چې آیا هغوی به په دې وتوانیږي چې له دې کار څخه خپل ملاتړ توجیه کړي که نه. د طالبانو د 1990 لسیزې دولت د مقایسې خطر له هغه څه سره چې طالبان یې اوس تر سره کوي، ښایي له هغو پالیسیو سره هیڅ تړاو ونه لري چې واک ته له راستنیدو وروسته یې غوره کړي.

هغه پوښتنه چې ډېره لږه پوښتل کیږي، دا ده چې طالبان *ولې* بدل شول. طالبان په 1990 لسیزه کې د کورنۍ جګړې له څو وسله والو ډلو څخه یو وو. له 2001 راپدیخوا د طالبانو شرایط په اساسي ډول بدل شول، له دې کبله د هغوی موخې او سیاستونه هم بدل شوي دي. د هغوی موخه له افغانستان څخه د اخلاقي فساد له منځه وړل وو چې عمدتاً د "فاسدو" کمونیستانو او مجاهدینو لخوا راوړل شوی و. اوس دغه ډله د بهرنیو ځواکونو په ملاتړ د لویدیځ پلوه دولت اصلي وسله وال اپوزیسیون دی او موخه یې له بهرني اشغال څخه د افغانستان آزادي ده. کوم بدلونونه چې په پورتنیو سیاستونو کې راغلي دي، د بلواګر په توګه د طالبانو ایدیولوژیک یا مالي غوښتنې ته څرګند ځواب وایي.

د دې څېړنې موخه د 1990 لسیزې سیاستونو تر منځ او هغه څه چې دم مهال تر سره کیږي، د پراخې مقایسې تر سره کول نه دي، خو ځینې یې د برجسته کولو ارزښت لري. هغوی په ښوونځیو کې د ښځو او نجونو د شمولیت بندیز له منځه وړی دی، که څه هم د طالبانو ډېری چارواکې ټینګار کوي چې په اصل کې له پیل څخه کوم ممانعت نه و. هغوی په څرګند ډول وویل چې ټولې ښځې باید زده کړو ته لاسرسی ولري، که څه هم دغه کار په ځانګړو شرایطو مشروط دی. پر کوکنارو باندې د طالبانو بندیز چې د هغوی د حکومت پر مهال یې د ناورین بڼه درلوده، په څرګند ډول اوس نشته او هغوی په ټولیز ډول له کوکنارو سره هر ډول اړیکه نه مني. له دې څخه لا ظریف توپیرونه هم شته. لنډه دا چې، هغوی باید ډېری هغه معایب او پاتې راتلل سم کړي چې په 1990 لسیزې کې د هغوی حکومت معلول کړي وو.

طالب بلواګر د سیمه ییزې وفادارۍ د لاسته راوړلو لپاره د خپلې حکومتولۍ له ظرفیت څخه ګټه اخلي چې د هغوی د اجباري واک تر څنګ مرسته کوي چې خلک د هغوی د نفوذ او کنټرول لاندې سیمو کې پاتې شي. د بلواګرو او ملکي وګړو تر منځ اړیکه د متقابل او نابرابر تبادل پر بنسټ ولاړه ده چې د دولت په پرتله د هغوی د واکمنۍ د پیاوړتیا په معنا ده. په بل عبارت، د بلواګرو حکومتولي د حکومت لپاره نه ده بلکې د جګړې زیاتولو بله لاره ده.

طالبان اوس باید د افغانانو واقعي اندیښنې په خپلو لومړیتوبونو کې راولي. ډېری اوسنیو او پخوانیو طالبانو وویل چې دغه توپیر د جګړې په اوږدو کې د ملکي وګړو د ملاتړ په اړتیا سره رامنځته شو. د طالبانو یو پخواني چارواکي څرګنده کړه چې "هغوی اوس پوهیږي چې په جګړې کې دي او باید د خلکو ملاتړ له ځان سره ولري. هغوی نشي کولای د خلکو د ارادې خلاف کار وکړي؛ ځکه د ملکي وګړو ملاتړ ته اړتیا لري، له دې کبله هغوی باید خپل ځینې نظرونه بدل کړي."[50]

د طالبانو د بدلیدو په هکله دوه مشهور روایتونه موجود دي او دواړه په زیات احتمال دقیق دي. لومړی دا چې، د طالبانو رهبرۍ په خپله له 2001 را پدیخوا کومې تجربې چې لاسته راوړې، ورسره بدله شوې. لکه څرنګه چې د طالبانو یو پخواني چارواکي وویل: "هغوی زیات سفرونه کړي، مجبور شوي چې له خپلو کلیو راووځي، په همدې ډول وخت یې پیدا کړی چې پر خپلو تیروتنو فکر وکړي. هغوی نړۍ ته کتلي او ورڅخه یې زده کړي. هغوی هغه مهال ساده جنګیالي وو، خو اوس دنیوي فکر لري."[51] ګوپال او ستریک ون لینشوټن (2017) استدلال کوي چې ډېری طالبانو پرته له دې چې له بهر نړۍ سره اړیکه ولري د افغانستان په حجرو او کلیوالو مدرسو کې زده کړه کړې ده. د طالبانو دولت د انتقال پروسه وه چې په ترڅ کې یې طالبانو غوښتل خپله دودیزه ایدیولوژي د خپلې حکومتولۍ له نویو غوښتنو سره یوځای کړي.

[50] Interview with former Taliban official, Kabul, July 2017 (6).
[51] Interview with Taliban ex-official, October 2017 (4).

دغه ډول تفکر د سیاست د پورته کچې پوهیدو لپاره ګټور دی، خو عمدتاً د طالبانو د پیاوړو کسانو په هکله کارول کیږي. طالبانو په سیمه ییزه کچه بیله لاره درلودلې ده. د هغوی مشران ښایی د شورویانو خلاف جهاد کې یا په 1990 لسیزه کې له طالبانو سره یو ځای جګړه کړې وي، خو د نوي نسل په هکله لږ پوهاوی شته. د هغوی زیاته برخه د طالبانو حکومت پر مهال زیږیدلې او د کرزي حکومت په وخت کې ځوانۍ ته رسیدلي دي او ډیر کم شمیر یې کلیواله دیني روزنه لیدلې ده یا هم د پاخه عمر طالبانو په څیر تجربې څخه برخمن دي.[52]

دویم روایت دا دی چې هغوی د بهرنیو تصوراتو د اداره کولو په برخه کې هوښیاري لاسته راوړې ده.[53] د هغوی کار ډیر پیچلی او حرفوي دی: د پام وړ خپروني، داسې ویاندویان چې په چټکۍ سره د WhatsApp، ټوییټر حسابونو، د راکښونکو ویډیوګانو په تولید او د څو ژبو وب سایټ له لارې ځواب ورکوي. پرته له کوم شک هغه څه چې هغوی د خپل وب سایټ له لارې د عدالت، د ملکي وګړو تلفاتو او د ښځو رول په هکله ډیپلوماتانو ته وایي، ډیر کم هغه څه ته ورته والی لري چې افغانان یې د طالبانو د کنټرول لاندې سیمو کې ویني. طالبان په خپلو باورونو او چلندونو کې یو شان نه دي. په حقیقت کې، دا د مهمو عواملو څخه یو دی چې د هغوی له تطابق او چټکتیا سره یې مرسته کړې چې کولای شي په یو موټي خپل پراخ چلندونه او غوره توبونه په پیاوړي ډول پلي کړي.

دا چې آیا طالبان "بدل" شوي دي، سیاسي مهمې پایلې لري. هغه روایت چې په لویدیځ کې د طالبانو د اداري په هکله موجود دی، باید په پام وړ ډول له طالبانو سره د هر ډول سولې تړون په موخه بدلون ومومي او له لیرې څخه ښه ښکاره شي. له دې امله "طالبان څرنګه بدل شوي دي" په هکله زیات استدلالونه شته چې اکثراً له سیاسي پلوه ژور او د کره څیړنې ارزښت لري. د افغانانو او افغانستان راتلونکي لپاره د طالبانو په سیاست کې هر ډول بدلون د طالبانو له خبرو ورهاخوا زیاتې څیړنې ته اړتیا لري او د هغوی کړنې باید په عمل کې په انتقادي ډول وارزول شي چې آیا د هغوی "بدلون" د طالبانو د اوسنیو سیاستونو د کره او انتقادي ارزونې په نسبت لږ اهمیت لري که نه.

## د ملکي وګړو چنه وهل (مذاکره)

کوم جوړښتونه چې د طالبانو لخوا جوړ شوي او کوم جوړښتونه چې د دولت او مرستندویه سازمانونو لخوا جوړ شوي دي، د غیرنظامي چنې وهلو میکانیزمونه جوړوي. د بیلګې په توګه د طالبانو په جوړښت کې د ولایت او ولسوالۍ په کچه غیرنظامي شوراګانې شته، په دې معنا چې په ټولنو کې د منځګړي رول لري. د حکومت او مرستندویه سازمانونو په جوړښت کې دننه له کلونو راپدیخوا د ښوونځي، روغتیا او سیمه ییزې پراختیایي شوراګانې له طالبانو سره د منځګړي رول لوبوي او ځینو یې ښایي طالبان د غړي په توګه هم منلي وي. ملکي وګړي له یوه پلوه طالبانو ته مهم دي او له بل پلوه دولت او مرستندویه سازمانونو لپاره رول لوبوي. په همدې ډول هغوی دولت او مرستندویه سازمانونو ته اجازه ورکوي چې تر ممکن حده له طالبانو سره د مستقیمې اړیکې مخه ونیسي او ورسره له مذاکرې څخه ډډه کوي.

تر هغه مهال چې دغه ډول منځګړیتوبونه له طالبانو سره د مخامخ کیدو یا د هغوی د کم ښکاره کیدو لامل نشي او په جدي ډول د طالبانو له کړنلارې سره تضاد ونه لري، خلک اجازه لري چې خپل ژوند ته دوام ورکړي. د طالبانو مشرتابه تر زیاتې کچې د خپلو سیاستونو د اجرا کولو لپاره پر سیمه ییزو قومندانانو ډډه کوي. طالبان د سیمه ییز ټولنیز جوړښت یوه برخه ده. طالبان اکثراً د ملکي وګړو ورونه، پلرونه، ترونه، زومان، ګاونډي او د ماشومتوب ملګري دي. کله چې طالبانو ته د لوړپوړو کسانو لخوا حکم ورکول کیده، د هغوی سیمه ییزو قومندانانو په خپلو مرکو کې د ناهیلۍ، شخړې او د حکم نه منلو خبره مطرح کړه ځکه فکر یې کاوه چې د هغه کار تر سره کولو د هغوی خلکو ته تاوان رساوه او یا د هغوی د غوښتنې خلاف و. له بلې خوا، که د سیمه ییزې

[52] See Gopal and Strick van Linschoten (2017) and Semple (2014) for detail on this.  However, knowledge of composition and experiences of this generation remains general and largely speculative.
[53] Interview with Taliban interlocutor, March 2017 (108).

کچي یو قومندان وغواړي خپل زور وښیي او یا له ګواښلو څخه کار واخلي، خلک ډیر بد احساس پیدا کوي. خلکو ته د دغو کسانو شخصیت او مخینه مهمه ده.

د ښو طالبانو / بدو طالبانو روایت د خلکو په منځ کې پراختیا لري. ښه طالبان/ بد طالبان تر زیاتي کچي د هغوی شخصیت او د سیاست په پلي کولو پورې تړاو لري. هغه شمیر طالبان چي د خلکو له منځه راځي، خلک له ملیشه ځواکونو او د دولت ملاتړو جنایتکارانو څخه ساتي او په هغه ځای کي چي خلک هغوی نه غواړي، هلته لاسوهنه نه کوي؛ دا ښه طالبان دي. هر طالب چي د خلکو د ارادې خلاف ګام پورته کوي او عمل یې تر حد زیات له زورزیاتي ډک وي، "بد" دی. بد طالبان اکثراً د پاکستان یا ISI تر زیات نفوذ لاندې وي. د دې دواړو تر منځ توپیر اکثراً تر سره کیدای نشي، خو خلکو ته امکان ورکوي چي د یوه شخص لخوا رامنځته شوي بدلونونه او د دغه ډول بدلونونو په پایله کې رامنځته شوې ویره په داسې سیستم کي تشریح کړي چي اطاعت کول ورڅخه تقریباً مطلق دي.

سیمه ییز تاریخ او مخینه هم له سیاست څخه د کار اخیستلو څرنګوالي ته شکل ورکوي. لوړپوړې رهبري ادعا کوي، کله چي هغوی له شدیدو اعتراضونو سره مخامخ کیږي، خپله اراده پر خلکو نه تپي. طالبانو په 1990 لسیزه کې په بیلابیلو کچو د ټولنیزو مسایلو په برخه کې په سیمه ییزو غوره توبونو باندې لاس پورې کړ، خو د سیمه ییزو قواعدو په وړاندې دغه بیان شوې آزادي نن ورځ ډیره څرګنده ده او موخه یې له ملکي وګړو سره تطابق دی. تاریخ او سیمه ییز دودونه هم د ځانګړو مسایلو د مذاکرې لپاره د ملکي وګړو پر ارادې اغیزه کوي. له تاریخي پلوه ځو نجوني په هلمند کې ښوونځي ته تللي؛ کله چي د نجونو د زده کړې په هکله له مشرانو او ښوونکو سره مرکې وشوې، هغوی په عجیب او غریبو څیرو یا ملنډو ځواب ورکړ. له بلې خوا، مشرانو په لوګر، وردګ او لغمان کي په زیات احتمال هڅه وکړه چي د طالبانو په وړاندې د نجونو له زده کړو ملاتړ وکړي.

مشرانو پراختیایي پروژو ته د اجازې ورکولو په مذاکرو کې په کندز، هلمند، لوګر او بغلان کې د طالبانو په وړاندې له کره او په ورته وخت کې شدیدو ګواښونو څخه د اړم په توګه کار واخیست. مشرانو د ټولني د اندیښنو او ستونزو د مذاکرې او منځګړیتوب په برخه کې مهم رول ادا کړ. سره له دې د هغوی نفوذ ډیر محدود دی.

انفرادي اړیکې پر چنې وهلو (مذاکرې) اغیزه کوي، که څه هم په ټولیز ډول طالبان دغه کار نه خوښوي. طالبان باید خپل پام ونیسي چي د یوه کس ملاتړي معرفي نشي او یا خدای مکړه فاسد معرفي شي، هغوی باید اجازه ورنکړي چي د هغوی اړیکې په غیرمستقیم ډول پر تصمیم نیولو اغیزه وکړي. سره له دې، طالبان د عمومي اعتماد په نشتون او په هر څیز باندې د پراخ شک په منځ کې د یوه کس د مخینې په هکله له څیړنو نیولې د یوه ښوونکي تر مقررولو او مرستو ته د لاسرسي په هکله تر مذاکرې پورې پر اړیکو ډډه کوي.

ملکي وګړي هغو کسانو ته اړتیا لري چي طالبانو ته نږدې وي. لکه څرنګه چي په بغلان کې د طالبانو یوه قومندان وویل: "موږ افغانان له اوږدې مودې په جګړه کې یو او د ژوندي پاتې کیدو لپاره باید پراګماتیک واوسو. هر څوک د ټیلیفون دوو شمیرو ته اړتیا لري، یوه د دولت لپاره او بله د طالبانو لپاره. آن زه هم په دولت کې زیات دوستان لرم؛ موږ خپل ژوند په همدې ډول مدیریت کوو."[54] ځینو کسانو طالبانو ته د خپلو زامنو د لیږلو پر څرنګوالي خبرې وکړې، ځکه باور یې درلود چي هغوی سره به ښه چلند وشي او پایله دا چي خوندي به وي. ځیني کسانو له طالبانو سره د خپلې لرې اړیکې او ملګرتیا په هکله خبرې وکړې او ویې ویل چي دغو اړیکو ته د "مبادا ورځې" لپاره دوام ورکوي. د ژوندانه او مرګ مسئلې ته په پام، دا یوه عاقلانه ستراتیژي ده — د بیلګې په ډول د یوه خپلوان د نیول کیدو یا د مرستو بندیدو پر مهال - دغه ډول اړیکې اکثراً ګټورې دي. سره له دې، "مقررات" ښایي لومړیتوب ولري، خو د خپل ځان د دفاع لپاره د مدافعینو درلودل اړین دي.

[54] Interview with Baghlan commander, February 2018 (116).

## مخالفتونه

د سیاستونو پلي کول په یو ډول نه دي. په داسي حال کې چي طالبان د تیر په نسبت زیاته همغږي لري، آن ټولیز او اوږدمهال سیاستونه هم ځیني وخت د سیمه ییزو قومندانانو لخوا نه منل کیږي. د دغو سیاستونو پر پلي کیدو دوه اغیزمن مهم عوامل عبارت دي له: د طالبانو د کنټرول اندازه او سیمه ییز خوځښتونه.

په داسي حال کې چي طالبان او دولت دواړه محدود کنټرول لري یا په هغو سیمو کې چي د تاوتریخوالي سیالي شته (د بیلګي په توګه په داعش پوري تړلي کسان یا د طالبانو نوري ډلي)، بریدونه او شپې پاڼې له عدالت، مالیاتو او موعظي سره یو ځای تر سره کیږي، ځکه هغوی د دې کارونو اغیزه ویني او هڅه کوي څو دغه اغیزه نوره هم پراخه کړي. د بیلګي په توګه، د نجونو منځني ښوونځي پرانیستي پاتي کیږي، او ولسوالان په خپلو سیمو کې میشت وي، که څه هم دغه دواړه احتمالاً له ګواښ سره مخامخ دي. په هغو سیمو کې چي طالبان د دولت په نسبت زیاته واکمني لري، کولای شي له خپل قدرت څخه په بشپړ ډول د اداري کولو لپاره کار واخلي. د بیلګي په توګه، هغوی کولای شي زندان او قاضیان ولري یا په ښوونځیو کې دننه د طالبانو څارونکي موجود وي. په زیاتو برخو کې د زورزیاتي ګواښ ته نوره اړتیا نه لیدل کیږي. طالبان د امنیت له احساس وروسته، سیمه ییزو خلکو ته خپله مهربانه څیره ښکاره کوي.

سیمه ییز طالبان معمولاً د خپلو باورونو یا ګټو پر بنسټ د سیاستونو پر پلي کولو ټینګار کوي. هغوی په پرله پسي توګه کولای شي قصداً د طالبانو له کرنلارو څخه سرغړونه وکړي څو خپله خپلواکي وښیي. یو کوچنی دیکتاتور په هر ولایت کې شتون درلودلی شي، دوی په سیستم کې دننه هغه کسان دي چي خپل قدرت پر معمولي خو په ډیرو مخربو کارونو کاروي. په هر حال، په هغو سیمو کې چي سیمه ییز "متمرد" شخصیتونه شته، نسبتاً استثنایي دي (یوازې شاه ولي کوټ او وردوج دوه بیلګي دي). دغه خوځښتونه اکثراً د طالبانو له شتون څخه مخکي پیښیږي. دغه ټولنیز موجود نظم هغه څه نه دی چي د طالبانو شتون وکړای شي په آسانی هغه له منځه یوسي.

بي کفایتي او ناپوهي کیدای شي په هر دولت کې موجوده وي چي دا هم په فکتورونو کې راځي. د روزني اړوند محوري کسان باید لږ تر لږه د مدرسي "تحصیلکرده" وي. په نورو چاراواکو کې جنګیالي او یا د ټولني د نفوذ خاوندان شامل دي چي سکتوري تخصص نه لري. آن د طالبانو په 1990 لسیزې حکومت کې چاراواکي لزوماً د تخنیکي معیارونو پر بنسټ نه مقرریدل او په پرله پسي ډول د خپل مقام په پوهیدو سمدستي بدلیدل څو د فساد مخه ونیول شي. د طالبانو چاراواکي د خپلو دولتي سیالانو پر خلاف د هیواد د اداري د څرنګوالي په هکله زیاته روزنه نه تر لاسه کوي. په داسي حال کې چي ښایي هغوی ته د مشرانو او سیمه ییزو چاراواکو لخوا د یوه ځانګړي اقدام په هکله دستور ورکړل شي، خو هغوی په قصدي ډول پر خپل قضاوت، له نورو څخه مشورې او تیرې تجربې باندې ډډه کوي.

د طالبانو مشرتابه هم د پلي کولو او سیمه ییز مخالفت په برخه کې د خپلې پیاوړتیا په هکله واقعي لید لري. هغوی پوهیږي کوم کارونه د هلمند په څیر محافظه کار، لیری پروت او له کوکنارو څخه بډای او په ډیر تحصیلکرده او د اسلامي ګوند تر واکمنی لاندي وردک کې شوني نه دي. هغوی دا د ژوندانه د یوه واقعیت په توګه مني. مخالفت په جدي ډول مردود دی او خپلمنځي توپیر بې وفايي ګڼل کیږي. د طالبانو ډیری سیاستونه د اسلامي احکامو په چوکاټ کې له امیر څخه د اطاعت کولو په ټینګار مطرح شوي دي چي د نظر اختلاف نه مني او هغه غیر اسلامي ګڼي. د طالبانو یوه اعلامیه چي ملاعمر خپلو ملاقات کوونکو باندې ویشله څو هغوی ته د طالبانو د مقرراتو او ایدیولوژی په هکله روزنه ورکړي، د دې کار څرنګوالی تشریح کوي. په اعلامیه کې راغلي: "له امیر څخه د اطاعت د اجرا کولو روحیي هر ډول کمزوري کول، د خدای د نظام تطبیقول کمزوري

کوي... خدای په امیر پورې اطاعت تړلی ځو هغه له خپل خدای او پیغمبر څخه اطاعت وکړي" (لوډیانوي، 2015: د رښا مکانونه 503-511). اختلافونه او بحثونه د خبرو اترو له لارې حل کیږي، ځکه ټول له اسلام سره مطابقت لري، او دا هغه څه دي چې په پام کې نیول کیږي.

د طالبانو په لیکو کې د ښو طالبانو/ بدو طالبانو روایت لیدل کیږي. د طالبانو ځو تنو ملاتړو او لوړپوړو کسانو د "بدو" طالبانو په هکله خپل نظر داسې بیان کړ چې دغه ډول کسان په خپلو شخصي ګټو فکر کوي او له مقرراتو څخه اطاعت نه کوي. ځیني سیمې د نورو په پرتله لا خرابې دي، د بیلګې په توګه، په شمال او شمال لویدیځ سیمو کې سیمه ییز طالبان چې احتمالاً جنایتکاران دي، په قوي احتمال د "بدو" په کټګورۍ کې راځي.

له دې موضوع څخه د اطمینان لپاره، هغه عوامل چې د اختلاف لامل کیږي، زیاتو څیړنو ته اړتیا لري. په ځانګړي ډول د تفاوتونو د منځپانګې په هکله ښایي څیړنه د حیرانتیا وړ پایلې لاسته راوړي. په داسې حال کې چې په دغو سیمو کې قومندانان ښایي "بد" یا په بل عبارت خپلواک وي، خو باید د ځینو مقرراتو اطاعت وکړي. آن که قومندانان له مقرراتو څخه سرغړونه وکړي، ملکي چاروآکی ښایي له هغو مقرراتو اطاعت وکړي چې له پاسه ټاکل کیږي.

## اجبار او کنټرول

له لنډې مودې وروسته (2015-2016) چې په ترڅ کې یې داسې ښکاریدل طالبانو د ښارونو په نیولو تمرکز کړی او د خبرونو سرلیکونه یې ځانته ځانګړي کړي دي، د هغوی ستراتیژۍ پر کرارو اغیزو تمرکز وکړ. هغوی په دې ټکي پوه وو چې د ځینو ښارونو د نیولو لپاره نظامي ظرفیت لري. نمایشي محاصرې په ځانګړي ډول چې د هغې د ساتلو توان نه لرئ، ډیر سخت کار دی او ډیرو سرچینو ته اړتیا لري. د طالبانو دغه ډول نظامي عملیات د ډار او ګډې ګډوالی لامل کیږي چې په خپل وار سره د طالبانو لپاره دردسر جوړوي ځو وضعیت کنټرول او بیرته نظم راولي. مرستندویه مؤسسې سیمه خوشې کوي او سوداګري کمزورې کیږي، د طالبانو د مالیاتو بنسټ ټیټیږي او ملکي وګړي په قاروي.

بل اساسي ټکی چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې اکثراً په ارزونې کې له پامه غورځیدلی، دا دی چې حکومتولي د یوې سیمې له نیولو وروسته نه پیلیږي، بلکې له هغې مخکې تر سره کیږي. زور او ورسره د طالبانو د حکومتولی ښه اړخونه لکه عدالت د بې نظمۍ مخه نیسي. د طالبانو حکومت د افغانستان دولت ځایناستی نه دی، بلکې ورسره همکاري کوي او هغه پیاوړی کوي او په پایله کې ګډې چوپړتیاوې چمتو کوي. هغه ولسوالی چې "غوځ ملاتړ" هغه د ښځرې سیمې یا د دولت تر کنټرول لاندې سیمې ګڼلې دي، په هغو کې د ولسوالی مرکز یوازینی ځای دی چې د دولت واکمني په کې موجوده ده. آن دغه واکمني له دې هم محدوده ده. ولسوالان، قاضیان او نور کسان د خپل امنیت د ډار له کبله په نورو سیمو کې میشت کیږي. هغه کسان چې پاتې کیږي، دغه کار د سیمه ییزو طالبانو په خوښه تر سره کوي.

لکه څرنګه چې مخکې اشاره وشوه، د طالبانو د مالیاتو بنسټ پراخوالی او د پیچلې فرصت طلبی کچه چې د هغې په پام کې نیولو سره مالیات وضع کوي، د نفوذ او کنټرول عمومي مفاهیم له ننګوني سره مخامخ کوي. لکه څرنګه چې منسفیلډ هم د مالیاتو په برخه کې په فراه، هلمند او ننګرهار کې په خپلې څیړنه کې استدلال کوي چې هغوی د خپل حکومت له پولو ډیر هاخوا مالیات راټولوي چې دغه کار د طالبانو د کنټرول لاندې سیمو د تعریف پر بیاکتنې ټینګار کوي (منسفیلډ، 2017).

داسې ښکاري چې افغان ملي امنیتي ځواکونه په زیاتو ولسوالیو کې له طالبانو سره اړیکې لري. دا کار د تالاشیو په پوستو کې چې د دولتي پولیس یا سرتیرو لخوا اداره کیږي، غیرمعمولي نه دی، ځکه دولتي ځواکونه د غرمې له 4 بجو وروسته له پوستو څخه شاتګ کوي او طالبان د بلې

ورځې تر سهاره په کې سنګر نیسي. لکه څرنګه چې منسفیلډ (2017) وايي، د طالبانو مالیات د دولت په شتون کې اخیستل کیږي او د کوکنارو کښت او د مالیاتو تنوع (د ورکړو ډولونه، د راټولولو میکانیزمونه) ته راستنیدل د طالبانو د نفوذ او کنټرول سیمې د اندازه کولو لپاره معیارونه چمتو کوي. څرګنده ده چې د ښار نیولو ته اړتیا نشته، ځکه د زور فضا له تاوتریخوالي سره کافي ده چې خلک ستاسو څخه اطاعت وکړي.

ملکي وګړي له هر پلوه تر بې ساري فشار لاندې دي او د ژوندي پاتې کیدو لپاره اکثراً د ناسمو معلوماتو پر بنسټ پر لنډمهالو انتخابونو لاس پورې کوي. ډیری ملکي وګړو په خپلو مرکو کې له طالبانو څخه دفاع وکړه، خو دا په دې معنا نه ده چې هغوی په واقعي ډول له طالبانو ملاتړ کوي. له طالبانو څخه د هغوی دفاع کول اکثراً د حکومت د ملامتولو لپاره وه. له حکومت څخه د ملکي وګړو تمې د طالبانو په نسبت ډیرې دي او حکومت هغوی ډیر زیات ناهیلي کړي دي.

د طالبانو حکومت په لومړي ګام کې نظامي موخو ته خدمت کوي، په دې معنا چې د ملکي وګړو د خبر ورکولو مخه ونیسي او خلک د خپل کنټرول لاندې راولي. لکه څرنګه چې هیروس او د هغه همکارانو په خپلې څیړنې کې د طالبانو د موخو په هکله وموندل: طالبان "د ملکي وګړو د لید څرنګوالي په برخه کې د پام وړ ښايي نیمګړی قابلیت څخه برخمن دي، داسې قابلیت چې احتمالاً د آیساف له هڅو څخه زیات پیچلی او پراخ دی" (هیروس او همکاران، 2017). په واقعیت کې، د طالبانو دغه ستراتیژي د زړه او ذهن او له دې کبله جګړې د لاسته راوړلو لپاره د مخالفې ډلې له هڅو څخه چې اکثراً یې د کمزورو پراختیایي پروګرامونو او نیمګړو سیمه ییزې حکومتولی پروګرامونو له لارې تر سره کوي، ډیره اغیزمنه ده.

## نتایج او<br>پایلې

طالبان د هیواد په پراخو سیمو کې مقررات جوړوي؛ داسې حقیقت چې ځینې کسان په معنالرونکي ډول د هغو په اجرا بوخت دي. دا په دې معنا دي چې هغوی دم مهال د میلیونونو افغانو لپاره روزنه، معلوماتو ته لاسرسی، روغتیا ساتنه، اقتصادي فعالیت، د چلند څرنګوالی او د راتلونکې لپاره لیرې لید کنټرولوي. په داسې حال کې چې همدا اوس د طالبانو د سر راپورته کولو په حال کې دولت په ټول هیواد کې موجود دی، هغه کسان چې په کابل کې میشت دي، ښايي له طالبانو سره د واک ویشلو معاملې پر څرنګوالي بحث وکړي.

په همدې ډول دا کار دغه اړتیا د پام وړ ګرځوي څو د نفوذ او کنټرول په هکله له سره فکر وشي. د کنټرول یا نفوذ تعریفونه هغې معاملې ته ورته دي چې مجموعه یې صفر ده، البته هغه مهال چې د حکومت ځینې برخې د هوکړې پر بنسټ د طالبانو د کنټرول په سیمو کې ترکیبي چوپړتیاوې چمتو کوي. په حقیقت کې تر هغه مهاله چې د چوپړتیاو برابرول د هغوی د مقرراتو پر بنسټ تر سره کیږي، د دولتي چوپړتیاو چمتو کول هڅول کیږي. په همدې ډول لکه څرنګه چې د ځواب ورکوونکو لخوا په مرکو کې بیان شوي، د طالبانو د کنټرول سیمو په هکله هیڅ ډول ځانګړې خطکشي نشته. د چوپړتیاو او ورځني ژوند په برخه کې نفوذ درلودل په ډیری سیمو کې د طالبانو د کنټرول ساحو ته رسیږي.

دغه رپوټ زیاتې پوښتنې راولاړوي او د راتلونکو څیړنو لپاره یوه آجندا ټاکي. د سولې د هر ډول راتلونکې معاملې او د بشر حقونو څخه د ملاتړ او مرستو د لاسرسي لپاره د طالبانو د سیاستونو اجرا او اداره کولو له څرنګوالي څخه ښه درک ته اړتیا ده. په هر حال، د هغو افغانانو لپاره چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې اوسیږي، تر ټولو اړینه مسئله دا ده چې د مقرراتو جوړولو لپاره همدا اوس کوم کار کیدای شي یا باید تر سره شي.

دغه رپوټ باید د نړیوالې ټولنې لپاره د راویښېدو یو غږ وي. کله چې په کابل کې د دې څېړنې لپاره له تمویل کوونکو سره مرکه وشوه، تقریباً ټولو ټینګار کاوه چې هغوی به مجبور شي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې مرسته بنده کړي او ټینګار یې وکړ چې هغوی د "طالبانو" سیمو سره مرسته کړې نه ده. د دې ټکي په پام کې نیولو سره چې د هیواد ځومره برخه د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ده، دغه کار دوه مخي ده، باید په دې کار باندې "خپل غوږونه کاڼه واچول شي"، څو په ناهیلي ډول د اړتیا وړ چوپړتیاو سره مرسته وشي، په داسې حال کې چې ښکاره شي چې طالبان له هغوی سره همکاري نه کوي.

دغه بحثونه له طالبانو سره د معاملې په هکله د تمویل کوونکو موجودو سیاستونو څخه د خپل ځان دفاع د پام وړ ګرځوي. ډیری کسانو د دې رپوټ په هکله خپلې اندیښنې په ډاګه کړې چې داسې نه چې پر هغوی د "طالبانو د ښوونځیو تمویل" تور پورې شي او یا ورته خبرې وشي. روغتیا ساتنې یا روزنیزو چارو سره د مرستو بندول نه یوازې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې پراختیایي او انسان دوستانه موخې کمزورې کوي، بلکې افغانانو ته تاوان رسوي، دغه کار به د زیاتو کډوالیو او بې ځایه کیدو لامل شي، د سولې هر ډول خبرې اترې به وځنډوي او له 2001 کال راپدیخوا ډیری اداري پرمختګونه او په دولتي چوپړتیاو کې پانګه اچونه به بې غیزې کړي.

یوه مسئله باید څرګنده وي: د مرستو بندول تر ټولو ممکن بد کار دی چې یو تمویل کوونکی یې کولای شي د افغانانو په حق کې تر سره کړي. د دې په پام کې نیولو سره چې د چوپړتیاو چمتو کول او د پراختیایي چارو وزارتونه یوازیني بنسټونه دي چې په ټولیز ډول یې خپل حضور د طالبانو په سیمو کې ساتلی دی، دغه کار به د افغانستان دولت لپاره هم زیانمن تمام شي. په هر حال، په دې مسئلو کې له طالبانو سره د اړیکو نه درلودلو هغوی ته اجازه ورکړې چې خپل مقررات تنظیم کړي.

یوه تر ټولو څرګنده موندنه دا ده چې هر څه د مذاکرې وړ دي. د مذاکرې پارامټرونه محدود دي، خو هغه کسان چې کولای شي له ځواک او معاملې څخه په ښه ډول ګټه پورته کړي، د خپل ځان او یا خپلو ټولنو لپاره ښه شرایط تر لاسه کوي. دغه ډول کسان معمولاً ملکي وګړي یا مرستندویه افغان کارکوونکي دي. په ورته وخت کې، طالبان پر چوپړتیاو د کنټرول یا اغیزې اچولو د زیاتولو لپاره نور هم له ستراتیژیک پلوه پیاوړي کیږي. داسې ښکاري چې مرستندویه مؤسسې، حکومت او نړیواله ټولنه له دې بدلونونو څخه دومره بې خبر دي چې د اندیښنې وړ خبره ده، په هیڅ ډول چمتو نه دي او له طالبانو سره په چلند کې کمزوري دي. دا کار په داسې حال کې تر سره کیږي چې طالبان ورځ تر بلې پر مرستندویه او حکومتي پروګرامونو خپل نفوذ زیاتوي. طالبان د بیلابیلو دلایلو له کبله غواړي له دې لوبغاړو (په ځانګړي ډول مرستندویه مؤسسې او ډیپلوماتان) سره خبرې وکړي، له دې کبله د حیرانتیا ځای دی چې هغوی په داسې مسایلو کې له ګډون څخه ډډه وکړي چې په څرګنده له هغوی څخه د ساتنې دعوا کوي. که مرستندویه مؤسسو په منسجم او ستراتیژیک ډول خبرې اترې پیل کړې وای، احتمالاً کولای یې شول چې د طالبانو پر سیاستونو اغیزه وکړي. په دې کار کې د روزنې مهم مسایل هم شاملیدل. اوس پوښتنه دا ده چې آیا هغوی به د دې کار د تر سره کولو تصمیم ولري؟

# References


Ariana News (2017c). Afghan local media forced to pay 'tax' to Taliban. *Ariana News*. Retrieved from https://ariananews.af/afghan-local-media-forced-to-pay-tax-for-taliban/

Jackson, A., & Giustozzi, A. (2012). *Talking to the other side: Humanitarian engagement with the Taliban in Afghanistan*. London: Humanitarian Policy Group, Overseas Development Institute

Barnes, J., & Amiri, E. (2017c). Taliban Commander Mullah Abdul Salam Akhund Killed in Airstrike, U.S. Says. *Wall Street Journal*. Retrieved from https://www.wsj.com/articles/taliban-commander-mullah-abdul-salam-akhund-killed-in-airstrike-u-s-says-1488386604

Chopra, A. (2016c). Afghan Taliban flex muscles with new telecom 'tax'. *Yahoo News*. Retrieved from https://www.yahoo.com/news/afghan-taliban-flex-muscles-telecom-tax-064416382.html

Mansfield, D. (2017). *Understanding Control and Influence: What Opium Poppy and Tax Reveal about the Writ of the Afghan State*. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit

Mansfield, D. (2018). *Bombing Heroin Labs in Afghanistan: The Latest Act in the Theatre of Counternarcotics*. London: International Drug Policy Unit (LSE)

Domínguez, G. (2016c). How the Taliban get their money. *Deutsche Welle*. Retrieved from http://www.dw.com/en/how-the-taliban-get-their-money/a-18995315

Echavez, C. (2016). *The Political Economy of Education and Health Service Delivery in Afghanistan*. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit

Gaston, E., Sarwari, A., & Strand, A. (2013). *Lessons Learned on Traditional Dispute Resolution in Afghanistan*. Washington, DC: US Institute for Peace. Retrieved from https://brage.bibsys.no/xmlui/bitstream/handle/11250/2475302/Lessons Learned on Traditional Dispute Resolution in Afghanistan?sequence=1

Giustozzi, A. (2009). *Koran, Kalashnikov, and Laptop: The Neo-Taliban Insurgency in Afghanistan, 2002-2007*. New York: Columbia University Press

Giustozzi, A., & Baczko, A. (2014). The Politics of the Taliban's Shadow Judiciary, 2003–2013. *Central Asian Affairs, 1*(2), 199 -1224

Giustozzi, A., Franco, C., & Baczko, A. (2012). *Shadow Justice: How the Taliban run their judiciary?* Kabul: Integrity Watch Afghanistan

Giustozzi, D. A., & Franco, C. (2012). *The Battle for Schools: The Taliban and State Education*. Kabul: Afghanistan Analysts Network

Giustozzi, D. A., & Franco, C. (2013). *The Ongoing Battle for the Schools: Uprisings, Negotiations and Taleban Tactics*. Kabul: Afghanistan Analysts Network

Gopal, A., & van Linschoten, S. (2017). *Ideology in the Afghan Taliban*. Kabul: Afghanistan Analysts Network. Retrieved from www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/2017/06/201705-AGopal-ASvLinschoten-TB-Ideology.pdf

Gul, A. (2018c). Taliban Attack Disrupts Power Supply to Kabul, Several Afghan Provinces. *Voice of America*. Retrieved from https://www.voanews.com/a/taliban-attack-disrupts-power-supply-in-kabul/4316293.html

Heer, C. (1937). Taxation as an Instrument of Social Control. *American Journal of Sociology*, 42(4), 484-492. Retrieved from http://www.journals.uchicago.edu/doi/abs/10.1086/217489

Hirose, K., Imai, K., & Lyall, J. (2017). Can civilian attitudes predict insurgent violence? Ideology and insurgent tactical choice in civil war. *Journal of Peace Research*, 54(1). Retrieved from http://journals.sagepub.com/doi/full/10.1177/0022343316675909

Watch, H. R. (2017). *"I Won't Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick" Girls' Access to Education in Afghanistan*. New York: Human Rights Watch

Livingston, I. S., & O'Hanlon, M. (2012). *Afghanistan Index*. Washington, DC: Brookings Institute

Independent Joint Anti-Corruption Monitoring and Evaluation Committee (2017). *Ministry-wide Vulnerability to Corruption Assessment of the Ministry of Education*. Kabul: Independent Joint Anti-Corruption Monitoring and Evaluation Committee (GIROA)

Islamic Emirate of Afghanistan (2006). Jihadi Code of Conduct (Layha)

Islamic Emirate of Afghanistan (2009). Code of Conduct for the Mujahedin (Layha)

Islamic Emirate of Afghanistan (2010). Code of Conduct for the Mujahedin (Layha)

Islamic Emirate of Afghanistan (2018c). The Islamic Emirate's Power Agency's announcement regarding the distribution of electricity on Kabul. *Voice of Jihad*. Retrieved from http://shahamat1.com/?p=111681

Islamic Emirate of Afghanistan (2017c). Statement of Islamic Emirate concerning martyrdom of Al-Haj Mullah Abdul Salam Akhund. *Voice of Jihad*. Retrieved from https://alemarah-english.com/?p=11123

Jackson, A. (2011). *High Stakes: Girls' education in Afghanistan*. Oxford: Oxfam. Retrieved from https://books.google.com/books?hl=en&lr=&id=J_JgTpxOmIsC&oi=fnd&pg=PA2&dq=high+stakes+girls+education+in+afghanistan&ots=3bu-pEJvp7&sig=g5P3ych39GeSM84sjISgdd3uGrs

Jackson, A., & Giustozzi, A. (2012). *Talking to the Other Side: Humanitarian engagement with the Taliban in Afghanistan*. London: Humanitarian Policy Group, ODI

Kalyvas, S. N. (2006). *The Logic of Violence in Civil War*. Cambridge: Cambridge University Press

Khan, A. (2015c). Ghost Students, Ghost Teachers, Ghost Schools. *Buzzfeed*. Retrieved from https://www.buzzfeed.com/azmatkhan/the-big-lie-that-helped-justify-americas-war-in-afghanistan?utm_term=.ulWKQEvbY#.cl1wZQ9nj

Ludhianvi, R. (2015). *Obedience to the Amir: An early text on the Afghan Taliban Movement*. First Draft Publishing

Mansfield, D. (2017). *Understanding Control and Influence: What Opium Poppy and Tax Reveal about the Writ of the Afghan State*. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit

Osman, B. (2016c). Taleban in Transition: How Mansur's death and Haibatullah's ascension may affect the war (and peace). *Afghanistan Analysts Network*. Retrieved from https://www.afghanistan-analysts.org/taleban-in-transition-how-mansurs-death-and-hibatullahs-ascension-may-affect-the-war-and-peace/

Pain, A. (2016). *Using Village Context Analysis in Afghanistan: Methods and Wider Implications*. Kabul/London: Afghanistan Research and Evaluation Unit/Overseas Development Institute

Pain, A., & Kantor, P. (2010). *Understanding and addressing context in rural Afghanistan: How villages differ and why*. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit

Pajhwok (2017c). Taliban collecting tax from Farah landowners. *Pajhwok*. Retrieved from https://www.pajhwok.com/en/2017/04/18/taliban-collecting-tax-farah-landowners

Pajhwok (2016c). Insurgents impose tax on Helmand land owners: Public reps. *Pajhwok*. Retrieved from https://www.pajhwok.com/en/2016/01/05/insurgents-impose-tax-helmand-land-owners-public-reps

Rubin, B. R. (2007). Saving Afghanistan. *Foreign Affairs, January/February*. Retrieved from https://www.foreignaffairs.com/articles/afghanistan/2007-01-01/saving-afghanistan

Semple, M. (2014). *Rhetoric, Ideology, and Organizational Structure of the Taliban Movement*. Kabul: US Institute of Peace. Retrieved from https://www.usip.org/sites/default/files/PW102-Rhetoric-Ideology-and-Organizational-Structure-of-the-Taliban-Movement.pdf

Shaheed, A. (2016c). Minister Sets Record Straight, Only Six Million In School. *TOLO News*. Retrieved from https://www.tolonews.com/afghanistan/education-minister-sets-record-straight-only-six-million-scho

Sharifi, S., & Adamou, L. (2018c). Taliban threaten 70% of Afghanistan, BBC finds. *BBC*. Retrieved from http://www.bbc.com/news/world-asia-42863116

Snow, S. (2017) 'Surge in Afghanistan is underway; 14,000 US troops now in country', *Military Times*. Retrieved from www.militarytimes.com/flashpoints/2017/11/16/trump-surge-in-afghanistan-is-underway-as-14000-us-troops-are-now-in-afghanistan/

Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (2016). *Schools in Herat Province: Observations from Site Visits at 25 Schools*. Washington, DC: Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction

Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (2018). *Addendum to SIGAR's January 2018 Quarterly Report to the United States Congress*. Washington, DC: Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction. Retrieved from https://fas.org/man/eprint/sigar-2018-01-supp.pdf

UNAMA Human Rights (2016). *Afghanistan, Annual Report, Protection of Civilian in Armed Conflict*. Kabul: UNAMA Human Rights. Retrieved from https://unama.unmissions.org/sites/default/files/poc_annual_report_2015_final_14_feb_2016.pdf

UNAMA Human Rights (2018). *Afghanistan, Annual Report, Protection of Civilian in Armed Conflict*. Kabul: UNAMA Human Rights

Evidence.
Ideas.
Change.

ODI is an independent, global think tank, working for a sustainable and peaceful world in which every person thrives. We harness the power of evidence and ideas through research and partnership to confront challenges, develop solutions, and create change.

**ODI**
203 Blackfriars Road
London SE1 8NJ

+44 (0)20 7922 0300
info@odi.org

odi.org
odi.org/facebook
odi.org/twitter